# د کندهار سفر

محمد معصوم هوتک

جَذَبه مي د دلـــــبر ښکوي و ځان ته
ګڼه هومري طاقت نه لرم په زور ځم

شمس الدين کاکړ

د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: د کندهار سفر،

ليکوال: محمد معصوم هوتک،

د خپريدو نېټه: د ۲۰۱۹ ام عيسوي کال دسمبر مياشت،

د خپريدو ځاى: افغان جرمن آنلاين پورتال.

کور ئي ډاگ مه کړي، دا وخت هم په ځونده (ځومره) بېره روان دئ چي مخ راگرزوي، بیا کلونه تېر سوي وي . وطن ته له تېر وار ورتگ څخه مي څه باندي څلور کاله تېر سول . زه چي وایم پرون وو. که قسم واخلم ، حانِث به نه سم چي په دې څلور کاله کي به هر کال غوټه تړلې راته پرته وه ،ناڅاپه به یو داسي ښکېل په کښېووت چي سفر به ئي راڅخه پاته کړ. سږ کال مي هم د پخوا په شان د سفر چورتونه په ژمي کي لا پیل کړل. زړه مي راته وویل چي د مني وخت ته به کار سموم. دغه وخت د کندهار انار او اَیته انگور ښه په موج کي وي، هوا هم توده نه وي او زما د ډاکټرانو اپاینټمنټونه هم یو په بل پسې نه وي . بس پر دغه فیصله مي په زړه کي آمین ووایه او د مني په انتظار کښېنستم. خو وایي تدبیر تړي تقدیر پر خاندي،د سږ کال (۲۰۱۹ع) د اپرېل میاشتي په سر کي مي خور له ویرجینیا څخه تیلفون راوکړ. ژوولي ژوولي خبري ئي کولې . په مطلب ئي نه پوهېدم . په پای کي ئي تر خوله بې اختیاره ووتل چي " حاجي عبدالله شهید سو". لکه د توپک ټک چي ئي راباندي وکړ. نور نو د خبرو ولوېدم . تیلفون مي مېرمني ته ورکړ. هغې د پېښي تفصیل ځني وپوښت او ماته ئي انا لله و انا الیه راجعون وویل. اسمان راباندي وڅرخېد. حاجي عبدالله د افغانستان د څلوېښت کلني بخولي نه لومړی شهید دئ، نه وروستی. په دې څلوېښتو کلونو کي په لکو مېرمني کونډي سوي دي، په لکو ماشومانو د یتیمۍ څپیړي پر مخ خوړلي دي، په لکو ځوانان او زاړه د خپلو عزیزانو تر جنازو لاندي سوي او تر گوره ئي رسولي دي، د لکو انسانانو مړي و لحدونه ورک سوي دي، خو حاجي عبدالله مي هم سکه د اکا زوی وو، هم مي انډېوال وو. یو ځای مو لوبې کړي وې. یو ځای موسبق ویلی وو. یو ځای مو مېلي و ښکارونه کړي ول، یو ځای مو څلوېښت کاله پرله پسې د باغ بانډارونه کړي ول. طبیعي ده چي مرگ ئي راته لوی غم جوړ کړ. د غم پله ئي په دې هم درنه وه چي په وطن کي زموږ د پراخي کورنی راپاته سپین ږیري هم دی وو. تر شهادت ئي دوې درې ورځي تر مخه مي له کاناډا څخه په تیلفون کي د روغ جوړ پوښتنه ځني وکړه، راته وې ویل " بنگړی یم بنگړی!". خو اوس دادئ خبر سوم چي کورته د تگ په حال کي د پولیسو رینجر موټر د شا پاله وواهه. پولیس په منډه ځني وتښتېدل او دی ئي پر سړک ټوکر ټوکر پرېښوو،چي تر روغتونه ئي رساوه، هسي مازي ساه پکښې چونېدله. نور نو وطن ته د تگ له پاره د ځنډ پلمه پاته نه سوه. جنازې ته خو ئي رسېدلای نه سوای، خو کندهار ته مي د تگ تیاری ونیو. په الامارات ایرلاین کي مي تر دوبۍ پوري د تگ راتگ ټکټ رانیو او له دوبۍ څخه د آریانا افغان شرکت ټکټ. د سفر پلان مي داسي جوړ کړ چي د فاتحو تر مراسمو وروسته به د خپلو ځینوچاپ ته تیارو آثارو د چاپ غم خورم، د پلرنی هدیرې پر ځینو قبرو باندي د شنختو درولو چاره پر مخ وهم، له فرهنگیانو او فرهنگپالو سره به لیدني کتني کوم او که راته ممکنه سوه کابل ته به هم سفر کوم. تر تگ وړاندي مي د ښاغلي استاد آصف بهاند په مرسته خپل یو پخوانی کتاب (پوخ کانی) دورځنیو حالاتو او تبلیغاتي هیاهوی له اسیته د یوه ضرورت له مخي په افغان جرمن آنلاین ویبپاڼه کي کښېښوو1. بهاند صاحب د کتاب تر ایښوولو وروسته

تیلفون راوکړ او ماته ئې د ښه سفر په هیله د نورو خبرو په ترڅ کې ئې د غوټۍ خاوري د وفات غمجن خبر هم راکړ. غوټۍ خاوري د افغانستان د علوموااکاډیمی غړی او د ځو کتابو لرونکي لیکواله پښتنه وه. ز ه چې په افغانستان کې د اوسېدو پر مهال په باختر اطلاعاتي آژانس پښتو څانګه کې مسلکي غړی وم، غوټۍ خاوري هم له پښتو څانګې سره همکاري درلوده او له نږدې مو سره پېژندل. ددې وفات یوه علمي و ادبي ضایعه ده. پاک خدای دې جنتونه په نصیب کړي.د وفات تاریخي ماده مې سمدلاسه په دې بیت کې وموندله:

خاوري نه ده، صرف له سترګو پنهاني سوه
نیم حیات ولاړ له "غوټۍ" جـــاوداني سوه

حل ئې داسي دئ:

نیم حیات = حی = ۱۸

غوټۍ = ۱۴۱۶

د (ولاړ) په قرینه که له ۱۴۱۶ څخه ۱۸ کم سي ۱۳۹۸ پاتېږي. غوټۍ خاوري د ۱۳۹۸ ش کال د حمل پر شپاړسمه = ۵ مه د اپریل ۲۰۱۹ع د جمعې په ورځ په کابل کې د ۵۸ کالو په عمر وفات سوه.

د سفر تر تیاریو وروسته د ۲۰۱۹ع کال د اپرېل پر اوومه د یکشنبې په ورځ د ماپښین پر دوه نیمو بجو له تورنټو څخه دوبۍ ته رهي سوم . د تورنټو هوایي ډګر ته پر لاري مي دا څو بیتونه ولیکل :

وطـنـه! دا واري درځـــم خــــــو پـــه ژړا درځم
له حــــــوادثــو اندېښمن یـــــــــم وارخطا درځم

نـه مي تفریح نه مي چکر نـــه مي مېله پــه زړه کي
و څـو غـــــــمجنو تـــه پــه عُــــــذر او پاتا درځم

تن مي رنځور، زړه مي غمجن غړي کمزوري تو‌له
اوږده ســـــــــفر تــه کړوپــه ملا یم پر عصا درځم

کــه مي نـصـیـب وي پــه بــل وار وطنه ستا د دیدن
لـــه خـــدایه غـواړم چي پـه خوښ زړه و خندا درځم

دوبۍ ته په دا سبا د ورځي پر یوولس نیمو بجو ورسېدم. په دوبۍ کي د آریانا شرکت الوتني ته اووه لس ساعته پاته وه او دا وخت مي باید په دوبۍ هوایي ډګر کي په انتظار تېر کړی وای. د هوایي ډګر په اول ترمینل کي له یوه کاکړ مُلا سره مخامخ سوم. نوم ئې ملا عبدالعزیز وو. ډېر بامعلوماته او با مطالعه سړی وو. مُلایي ئې خوشي کړې وه او په تجارت ئې ځان مصروف کړی وو. زما آثار او کتابونه ئې کتلي ول او زما په لیدو ئې خوښي وښووله. د هوایي ډګر ستومانوونکی انتظار مي له دغه وطنوال سره په مباحثو او خبرو اترو ډېر لند سو. په پای کي د آریانا الوتکي د الوتني وخت راورسېد او د سه شنبي په ورځ د اپرېل پر نهمه د سهار پر اووه بجي مي د کندهار پر نړیوال هوایي ډګر پښه کښېښووله. له څلورو کالو وروسته مي بیا پخپل

پلرني ټاټوبي کي د ساه کښلونېکمرغي په برخه سوه. هوايي ډګر ته مي خوريي حاجي فيروزالدين راوتلی وو. نم نمک باران اورېدئ چي مخ مو پر کور ونيو. له هوايي ډګر څخه تر ښاره پوري ډېره پراخه (highway) جوړه سوې وه چي د پرمختللو هيوادو له لويو لارو سره ورته ايسېدله. دا لويه لار راته نوی انکشاف و ايسېد. په جګړه ځپلي هيواد کي د عمران او ودانۍ لړ کار هم پر چا مجرا کېږي، دا خو لا يوهستره پروژه وه چي بشپړه سوې وه. د خوريي کور مي په اوله عينو مېنه کي پر ديارلسم سړک پروت دئ. د عينو مېني له برکته ددغه عصري ښار کورونه منظم ادرس لري . سړک ئې معلوم دئ او د کور لمبر ئې هم. ددغو منظمو او عصري کورو په کتو سره ، ماته هغه د پخوا کلونه راياد سول چي د ليک پر پاکټ به ئې کښلي وه :" لفافهٔ هذا در شهر قندهار بدست برادرِ بجان برابرم در ساعت نيک برسد". نه به د (برادر) ادرس معلوم وو، نه د کور و دوکان پته. مرحوم ابراهيم جان کاکړ يو وخت راته ويلي وه چي ډېر پخوا به ئې د ليک د پاکټ پر دا بله خوا( بحوالهٔ قطميرات) ليکلي وه. ده به ويل چي د هغه وخت عام ذهنيت داسي وو چي دغي جملې د ليک له سالم رسېدو سره مرسته کوله ! القطمير خو په لغت کي د خرما د پوست او مندکي (زړي) تر منځ نازک وَرَغ (ورق) ته وايي او معمولاً د وزن له پاره کارېږي. خو دا چي ولي خلکو د پاکټ پر شا دغه کلمه ليکل؟ تر ټوټکي په ها خوا بل څه نه ځني راوزي.

دغه ورځ مي له دوستانو سره په غمشريکي او د شهيد حاجي عبدالله پر وير تېره کړه. ډېرو دوستانو او شناخته خپلو پرله پسې تيلفونونه را کول او غمشريکي ئې راسره ښووله. د ټولو دي کور ودان وي. پر کورو دې د غم ناره نه کېږي. د اپرېل پر لسمه (۲۱ حمل ۱۳۹۸ش) خپلي پلرنۍ هديرې ته ولاړم. د حاجي عبدالله قبر ته مي د دوعا لاسونه پورته کړل او له پاک خدايه مي ورته د جنتو هيله وکړه. وروسته د نورو حقدارانو پر مزارونو وګرځېدم . د خپل مشراکا له زوی حاجي نجيب الله سره مي د هديرې پر ځينو قبرونو باندي د شنختو لګولو مسئله طرحه کړه او په تېره بيا د خپل نيکه مولوي صالح محمد هوتک کندهاري د مزار جوړولو اراده مي ورسره شريکه کړه. د شنختو د متن ليکلو کار ئې ما پر غاړه واخيست او د نورو چارو سرته رسول مي ده ته پر غاړه ور واچول. د شنختو له جوړوونکو سره مي مقدماتي خبري په دا سبا وکړې او فرمايش مي ورکړ.

زموږ پلرنۍ هديره د کندهار ښار په احمدشاهي هديره کي د حضرتجي بابا د زيارت شمال ته پرته ده. د هديرې لويديځ خواته د کندهار د سدوزو د مشهوري کورنۍ (د لوی احمد شاه بابا د اخلافو) هديره او جنوب ته ئې د کندهار د مشهورو سوداګرو او اجتماعي شخصيتونو اروابناد موسی خان او اروابناد عطاجان د کورنۍ هديره واقع ده. پر دې درو سرو هديرو پاخه دېوالونه را تاو سوي او د پاسه ئې د اوسپني کټارې پر ولاړې دي. زموږ په هديره کي زموږ د پراخي کورنۍ د نارينه او ښځو يو سل و دواتيا (۱۸۲) قبرونه ماته په نامه را معلوم دي او د ټولي هديرې نخشه راسره سته. ددې نخشې ترتيبوونکی زما د اکا زوی مرحوم حاجي عبدالمتين دئ چي نخشه ئې د خپل پلار او نورو مشرانو له ياداښتو څخه برابره کړې ده . د نخشې اصل د حاجي صاحب له زوی حاجي مسعود ګلالي سره خوندي دئ او يو نقل (کاپي) ئې زما سره هم سته. په دې هديره کي اول قبر زموږ د مشر نيکه محبت خان هوتک دئ چي په کورنۍ کي مو (بابکو) باله او د لوی احمد شاه بابا په فرمان د کندهار ښار ( اشرف البلاد) د ودانولو پر وخت ( ۱۱۶۹هـ ق) د زابل ولايت له سيوري څخه له خپل ورور صحبت خان سره يو ځای کندهار ښار ته راغوښتل سوی وو.

په دغه ورځ ښاغلي حمد الله صحاف، کاکا اسدالله خان او بسم الله خان کور ته راغلل. له حمدالله صحاف سره شپېته کلنه پېژندګلوي لرم. هغه وخت چي ما پر اروابناد ملا عبدالسلام اخند باندي دده د صحافۍ په دوکان کي درس وايه، حمدالله مي ليدئ چي د خپل پلار ملا حبيب الله اخوند (

مشهور په وکیل صاحب) په دوکان کي په درس لګیا وو. دغه دوه دوکانه د کندهار د ارګ بازار په لویدیځه راسته کي د سید عکاس دوکان څنګ ته واقع ول. مرحوم ملا حبیب الله اخوند او ملا محمد قاسم اخوند دوه ورونه ول چي په همدغه بازار کي ئې د کتابو تجارت او د صحافت چاري پر مخ وهلې. ددوی قبله ګاه ملا نور محمد اخوند نومېدئ چي د خپل عصر له جیّدو علماوو څخه وو او د پنجوایي اولسوالی په زنګاوات کي اوسېدئ. د ملا نورمحمد اخوند پلار ملا عبدالخالق اخوند هم د علم برخه درلوده. ددغي کورنی لوی نیکه ژیړي بابا نومېدئ چي زیارت ئې د (امارت) په کلي مشهور دئ. د ملا حبیب الله اخوند ورونه ملا عبیدالله صاحب او حاجي ملا محمد قاسم اخوند مدرس ملایان تېر سوي دي. ملا حبیب الله اخوند (وکیل صاحب) د برتانوي هند په لویو ښارو کي د علم د کسبولو په نیامت کلونه کلونه تېر کړي ول او کله چي د ۱۳۲۰ هـ ش کال په حدودو کي کندهار ته رغی، نو ئې د شاو خوا کلیو په مسجدو کي امامتونه او تدریس کاوه. څه موده ووسته ئې د مسجدو امامتونه پرېښوول او کتابو خرڅولو او صحافت په چارو ئې لاس پوري کړ. وکیل صاحب منوّر ملا وو، شعري طبعه ئې درلوده او د فارسي او پښتوشعراوو دېوانونه ئې مطالعه کړي ول. زه (هوتک) چي به هر وخت کویټې ته ورغلم، له ده سره مي کتل. وروستی وار چي مي ولید( ۱۹۹۷ع)، د وخت له حالاتو څخه ډېر شاکي وو په ډېر افسوس ئې ویل چي " انسانان مسخه سوي دي، د یوه انسان د حلالېدو ویډیو اخلي او په ویاړ ئې خپروي".

حمدالله صحاف رسمي زده کړي نه دي کړي خو له پښتو ادب سره ئې مطالعه هر وخت جاري ساتلې وي. خورا غني کتابتون ئې برابر کړی دئ او د خطي آثارو درنه زېرمه لري. ماته په افغانستان کي له حمدالله صحاف او اروابناد محمد حلیم سلیمي پرته بل داسي څوک معلوم نه دئ چي د خپل شخصي کتابتون نادري او قیمت بهاخطي نسخي دي ئې په سخاوتمندی سره د پوهانو په واک کي ایښي وي. صحاف صاحب په کوټه او کندهار کي د پښتو ادب خورا ډېر آثار چاپ ته تیار کړي دي او د کار دِقت ئې زموږ د وخت ټولو پوهانو تایید کړی دئ. کله چي په کوټه کي اوسېدئ، د (پالنه) په نامه ئې یوه مجله هم دوه کاله خپره کړه. د چاپ لګښت ئې د خپل لاس په خواري د صحافی له پیسو څخه برابراوه.

صحاف صاحب اوس د کندهار په عینو مېنه کي یوه ډېره غني کتابخانه او پر څنګ ئې د کتابفروشی دوکان لري. دوکان ئې د فرهنګپالو د ناستي ځای هم دئ او زه به هم د خپل دغه سفر په شپو کي هره ورځ چي له نورو کارو او مصروفیتو څخه فارغه سوم، د ده دوکان ته ورتلم. د ده د صمیمي مجلس خاطرې مي هر وخت په زړه کي وي. پاک خدای دې تل همداسي په عزت لري.

کاکا اسدالله خان هم په عالي دارالمعلمین کي د تعلیم له وختو راهیسي پېژنم او تر ننه مو شناخت او دوستي پاللې ده. ددوی کورنۍ د کندهار له مخورو او منورو کورنیو څخه ده. پلرنی مېنه ئې د کندهار په شاهي طبیله نومې کوڅه کي وه. مشر نیکه ئې ملا نواب خان نومېدی. په قوم پوپلزی ایوبزی وو. د ملا نواب خان زوی ملا اسحاق اخوند او لمسی ئې ملا حیات اخوند نومېدی. ملا حیات اخوند تر ۱۲۸۵هـ ق پوري ژوندی وو2. دا وخت د امیر شیرعلیخان د دوهم وار پاچهی اول کال دئ.د ملا حیات اخوند دوه زمن وه چي غلام قادر او غلام محی الدین نومېدل. له غلام قادر څخه د حاجي اسحق زي ، حاجي مدین زي او امان الله په نومو درې زامن پاته سول چي حاجي اسحق زی د کاکا اسدالله خان پلار او د خپل وخت مخور مشر وو. د وخت پاچهانومحمد نادر خان او محمد ظاهر خان ورته د کندهار د یوه مشر په سترګه کتل او په نامه ئې فرمانونه ورته رالېږل چي ما (هوتک) کتلي او لوستلي دي. د کاکا اسدالله خان اکا (تره) حاجي مدین زی ما لیدلی وو او په ارګ بازار کي زما د استاد ملا عبدالسلام اخوند دوکان ته راتلئ. ډېر بامطالعه سړی وو. د علم او پوهي پرڅنګ ئې د خطاطی او په لرګي کي د کندنکاری

هنرونه هم زده ول. ښکلی نستعلیق خط ئې کیښ او د لرگي د لکړي په سر کې د ده په لاس جوړه سوې د زمري مجسمه ما (هوتک) پخپله لیدلي وه. د موسیقې په مقامونو کې ئې د یوه استاد په سطحه معلومات درلودل. د دوی د پلرني مسجد د امام ملا ضیاؤالدین اخوند هم مجلسه وو او د هغه د ژوند په باب ئې ځیني یادانښتونه کښلي ول. حاجي مدين زي په دولتي ماموريتو کې د علاقه داری او اولسوالیو حکومتي چاري هم سرته رسولي وې او د خپل وخت د حُکامو په باب ئې معلومات خورا پراخ ول. د مجلس ظرافتونه ئې هر وخت زما په ذهن کې راگرزي. پاک خدای دې وبخښي.کاکا اسدالله خان هر وخت له ما سره د یوه تېروني دوست چلند کړی دئ. خدای دې په عزت کې اوږد ژوند ورکړي.

د اپریل پر یوولسمه (۲۲ حمل ۱۳۹۸ش) د پنجشنبې په ورځ بازار ته ووتم. په هرات دروازه کې د خپل اشنا حاجي اختر محمد خان د زوی حاجي عبدالسلام دوکان ته ورغلم. پر حاجي عبدالسلام باندې ئې په کور کې له کوچنیوالي څخه د ناز نوم (پاچا) ایښی دئ. زه ئې هم په همدغه نامه بولم. دا وار چې دوکان ته ورغلم او د پاچا په نامه مې وباله، په خندا ئې راته وويل چې"زما نوم خو عبدالسلام دئ". په جواب کې مې ورته وويل چې ستا نوم خو رشتيا هم همدا دئ، مگر موږ ته پاچا یې او پاچا به دي بولو. د ده دوکان یو زراعتي شرکت دئ چې د نباتاتو د ناروغیو او نوري ودې له پاره کیمیاوي مواد او دواوې، پوډرونه، او نور مواد پلوري او پر څنگ ئې باغوانانو او بزگرو ته د کرني په باب مشورې هم ورکوي. له اورېدو چې له بزگرانو او باغ والاوو سره ئې مرسته ښه نتیجه ورکړې ده.

د پاچا په دوکان کې مې تر غرمې پوري له خپل اشنا حاجي اختر محمد خان سره خوږ مجلس وکړ. زړې خاطرې مو بيان کړې. غرمه چې مې کور ته د تگ اراده وکړه، راته وې ویل " ته کښېنه، یو ځای ته دي بیایم". ما عذر ورته وکړ، ده ول" کور ته تیلفون وکه چې غرمه نسم درتلای". زورور سړی دئ، خبره مې ور غبرگولای نسوای. غرمه مهال د پاچا په موټر کې مخ پر میرویس مېنه روان سوو. پر لاري د ترافیکو ازدحام ښه پوره وځنډولو. د کندهار محبس مخې ته دوه طرفه سړک بند سوی وو او د تگ و راتگ وسایل دواړه پر یوه خوا روان ول او دې کار خورا زیات مشکلات پېښ کړي ول. خو خیر، د انتظار وخت مو په مرکو او خبرو تېر کړ او غرمه په میرویس مېنه کې دده د دوستانو یو کوچنوټي واده ته ورغلو. هورې مې د خپل اشنا د اکا له زوی حاجي عبدالقدوس سره هم ولیدل. حاجي عبدالقدوس د شهید کریم خان زوی دئ. زه چې پر پاخه عمر ووم پلا کابل پوهنتون ته شامل سوم، دی هم په پوهنتون کې محصل وو. په لیلیه کې به مو د غرمې ډوډۍ پر مهال زیاتره سره لیدل. حاجي عبدالقدوس ډېر قدردانه سړی دئ. په واده کې مي تر ډوډۍ خوړلو وروسته له حاضر مجلس څخه رخصت واخیست. حاجي اختر محمد خان پاته سو او زه دده له زوی محمود جان سره په موټر کې مخ پر خپل استوگنځي ( عينو مېنه) روان سوم. پر لاري مو د غره و د وره خوندور مجلس وکړ.

په دغه نېټه د شپې له خوا اسدالله ارماني او خلیل سروري کور ته راغلل. دوی زما په خوی و خاصیت پوه زلمیان دي. زما د مطالعي له پاره ئې ( دستارنامه) او (زر مقالې) کتابونه راوړي ول. د دستار نامې دغه چاپي متن د ډاکټر عبدالحکیم شاه خټک په زیار برابر سوی او د افغانستان د علومو اکاډیمی او کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له خوا په ۱۳۹۷ش = ۲۰۱۸ع کال خپور سوی دئ. پر کتاب باندې د ډاکټر خټک کار او زیار په رشتیا سره د ستاینې وړ دئ. زه چې له سفره په خیر بیرته کاناډا ته ورسېدم، هورې به ئې په دقت سره ولولم او یقین مې دئ چې ډېر نوي څه به پکښې ومومم.

(زر مقالې) یا (هزار مقاله) د علامه پوهاند عبدالحي حبیبي مقالې دي چې د " مرکز تحقیقات علامه حبیبي" له خوا په ښه قطع او صحافت په ۱۳۸۷ش کې له چاپه راوتلی دئ. د مقالو د

راغونډېولو زيار ئي ددغه مرکز مشر ښاغلي حبيب الله رفيع پر څان منلی دئ. دغه ټوک ئي ښاغلي رفيع صاحب ماته ډالی کړی او خليل جان سروري ته ئي سپارلی وو چي دادئ اوس زما لاس ته ورسيد. زه رفيع صاحب ته ددغه زيار مبارکي وايم او د کتاب پر لومړي مخ ئي ددغي جملي له اسيته منندوی يم چي راته کښلي ئي دي :"ګران ورور، د لوی استاد د آثارو مين او عقيدتمن جناب معصوم هوتک ته ډالی شو".

ګران اسدالله جان ارماني راته د علامه حبيبي په زيار تدوين سوی کتاب ( ترجمه السوادالاعظم) او څو نور زاړه چاپ پښتو کتابونه ور سره راوړي ول چي د کورودانی مستحق دئ.

د اپرېل دوولسمه د جمعي ورځ وه او پخوا به موږ په جمعو کي ارغنداو ته تلو. دا ځلا مي دامان اولسوالی (نجوی) کلي ته د تګ اراده وکړه. په نجوی کي زموږ پدري جايداد سته او څه دپاسه اوو سوو جريبو ته رسيږي. دا جايداد زموږ نيکه حاجي عبدالغني (اکولالا) په نغده پيرودلی وو او اوس دده د پنځو زامنو او يوې لور د ورثه وو تر منځ وېشلی دئ. دا ټول جايداد د نجوی په کلي کي د يوې مېشتي کورنی په لاس په لېکه يا اجاره کرل کيږي. دا کورنی د غني لالا پوپلزي کورنی ده چي اوس د همدغه غني لالا دوه زامن حاجي محمد نبي (ملک) او محمد رحيم او د دوو نورو زامنو (حاجي عبدالولي او محمد کريم) اولاده پر مېنه ناست دي او زموږ پدري جايداد هم د دوی له خوا روزل کيږي. زموږ په کورنی کي د حاجي اکولالا تر وفات وروسته ددغه جايداد سرپرستي زما د پلار په لاس کي وه. وروسته بيا زما د اکا مرحوم حاجي عبدالمجيد پر غاړه وه. اوس هره برخه د خپلو ورثه وو په اختيار کي ده خو په مجموع کي ئي نظارت زما د مشر اکا زوی حاجي نجيب الله پر غاړه اخيستی دئ. حاجي نجيب الله پخپله برخه کي چي ( د پيل شا) نوميږي، د څو کلونو راهيسي ښه ډېري خواری کښلي دي. برمې ئي ورته وهلي دي، د چرګانو فارم ئي جوړ کړی او برمي ئي پکښي وهلي دي. پر يوه حصه ئي منظم دبوال راتاو کړی دئ. ښه عصري ودانی ئي پکښي اباده کړې ده. د کرني پر څنګ ئي مالداري هم له پامه نه ده ايستلي. مصرفونه ئي ډېر کړي دي او د چا خبره څان ئي دوو نغريو ته کښېنولی دئ خو نتيجه ئي لا تر اوسه په بشپړه توګه معلومه نه ده. خدای دي وکړي چي دغه زحمتونه ئي دده پر زړه برابره نتيجه ورکړي.

د دامان اولسوالي د اوبو له مخي نېستمنه سيمه ده. پخوا کارېزونه پکښي ول او له ترنک رود څخه ئي منظمه حقابه هم درلوده. اوس ئي کارېزونه وچ دي خو که کال اباد وي او بارانونه سوي وي، له ترنک څخه دونده (دومره)اوبه ورته راځي چي ددوی د غلو دانو کښتونه په اوبه سي.

زموږ نيکه حاجي اکو لالا نهه لسيزي پخوا د دامان د دغي سيمي انځور په يوه شعر کي داسي بيان کړی وو:

دا حـــاضـــره کـال آبـــاد دئ بـي دامـانـه خوارحيران
چي قسـمـت د ښـو يـې نـسـتـه اهـالي ئي سرګردان

کـال آبـاد،وابـنـه تـازه، درختـي بـــارداره د هـرځـای
هم يې واړه غلي ښـي دي بې لــه پـورته د دامان

بـــاغ و ګل ور لـره نـسته ، د غـلو برخه ئي خواره
ترنک وچ تر ښوراو پوري بيا تر زيات لا ارغسان

ارغسان پـــوره بـهيـږي ارغــنـــداو هــم دئ نـاپـايـه
هيـلـمند غــرونـه غرونه کيږي نور رودونه همچنان

ډوری ډکه لـه اوبـوده د رودو بـدبخت ترنک دئ
لـه اخـونـده تـر خـوشابـه دا حد وچ پر هر زمان

د دامـان کلي بـرهـم لـه مـرسينزو بيا تر خوشابه
نـه ئي مـال نـه ئي ثروت سته نه يې چا وليدئ خان

مـاليـه ده پـر دوی جبر، د ونډی عسکري بيا هم
لـه جريبه بـه فـرارسي طـاقت نـه لري خواران

د دامـان و مـالـه جـات ماليـه يـکـرنـگه تړلي
مـالـه جـات لـري اوبـه باغ وباغچه ، دامان ويران

ترنـن پـوري ماليه چاکمه نه کړه حال بې څه وي
چارنـاچار بـه فـرار کيږي دا شاعر ئي کړي بيان

يـا تـجـويـز د اوبـوغواړي يـا تخفيف په ماليه کښي
وگرنه، کلي بـه تـور سي ځای به سي د رهزنان

اوس د باوړيو او برمو له برکته په دامان کي د پام وړ بدلون راغلی دئ. په تېره بيا سږکال (۱۳۹۸ش) چي د بارانو له لحاظه ښه اباد کال دئ، د دامان هر ځای زرغون ښکاري. خو دا مځکه به له يوه پراخ دولتي پلان پرته په شخصي تشبثاتوچنداني اباده نه سي.

لکه مخکي چي وليکل، د اپرېل پر ۱۲مه د حاجي نجيب الله فارم ته ولاړم. دغه فارم ته د جمعي په ورځ د حاجي نجيب الله انډيوالان په مېله راوزي. ورځ دلي تېروي او د ماښام تر لمانځه وروسته بيرته ښار ته ځي. په دغه ورځ هم ددوی مېله وال راغلي ول. زما په ورتگ باندي د نجوی کلي خلک په دا پرون کي خبر سوي ول او په دغه ورځ له کلي څخه په زرنج رکشه کي يوه ډله خلک زما ليدو کتو او د مرحوم حاجي عبدالله د فاتحي عذر ته راغلل. حاجي ملک او ورېرونه ئي ورسره ملگري ول. تر روغبړ وروسته ئي ماته د دوعا کولو غوښتنه وکړه او ما هم اوږده دوعا وکړه. د حاجي عبدالله روح ته مو د مغفرت خواستونه وکړل. بيا ئي نو د جوړ روغ پوښتنه وکړه او د کلي پر حالاتو باندي په خبرو مو مجلس گرم کړ. تر غرمي ترمخه دوی کلي ته د بيرته تگ اراده وکړه او عذر ئي دا راووړ چي په دغه ورځ ددوی په کور کي د نکاح تړلو مراسم په پام کي وه او ددوی ورتگ ، طبيعي وه چي لازم وو. خدای په اماني او حق پليت مو سره واخيست او دوی بيرته مخ پر کلي روان سول. په دغه ورځ نمنمک باران اوربېدئ او دوی به ئي تر کلي پوري هرومرو پر لاري لانده کړي وي.

زه د غرمي ډوډۍ تر خوړلو وروسته بيرته له محمد شفيع سره په موټر کي ښار ته راغلم.

کورته له رارسيدلو سره سم له کابل څخه د افغانستان د علومو اکاډيمی غړي ښاغلي شريف الله دوست ټيلفون راوکړ. شريف الله دوست دانشمند ځوان او د هيلمند ولايت اوسيدونکی دئ. ماته خورا ډېر اخلاص لري. د اکاډمی پر حالاتو ئې د يوې ټيلفوني مکالمي په محدوده کي معلومات راکړل. زما ورته ډېر اميدونه دي چي که خدای کولوپه راتلونکي کي به زموږ د ژبي او فرهنگ په مخکښو څېړو کي وگڼل سي.

د اپرېل پر ديارلسمه د شنبي په ورځ مي خوريې او اولادونه ئې ټول کابل ته روان سول. زه په کور کي يوازي پاته سوم. د رزق و روزی او نور خدمت ته مي بل خوريي حاجي مسعود گلالي

ملا وتړله. دی او زوی ئې یاسین جان د سهار له چایو څخه بیا د ماخستن د بېدو تر وخته راته دوگامه ولاړ ول. یاسین جان ډېر ځیرک او پخپله ښونځي کي له ممتازو شاگردانو څخه دئ. پاک خدای دې همداسي په هدایت کي ور لوی کړي. په دغه ورځ ځاښت مهال د صحاف صاحب دوکان ته ورغلم. له کور څخه ئې د خپلو خطي کتابو څخه یوه پلنډه دوکان ته زما د کتلو له پاره راوړې وه. په دغه ورځ مي د مخبر العجائب په نامه یو خطي کتابوکوت او له ځانه سره مي کورته راووړ. دا کتاب د هندوستان تاریخ دئ. ژبه ئې فارسي ده او د استنساخ کال ئې د لوی احمدشاه بابا د پاچهۍ دریم کال ښوول سوی دئ. د کتاب د پای عبارت داسي دئ :

" تمت تمام شد بفضل ایزد متعال تواریخ نامه سلاطین سلف و احوال بزرگان ماضی بدستخط احقرالعباد محمد پناه بن سعدالدین قادری اولاد شیخ موسی بودله اندجانی بتاریخ غره محرم الحرام در سنه سه احمدشاه بادشاه غازی در شهر لاهور بموجب فرمایش و هم تصنیف خانصاحب و قبله کرم گستر دستگیر بیکسان محمد امین یارخان صورت اتمام یافت ...."

دا کتاب مي تر نظر تېر کړ او مهم ځایونه مي ورته نښاني کړل او کتاب مي بیرته صحاف صاحب ته ورکړ.

په دغه ورځ سهار مي د قبرو د شنختو فرمایش ورکړ.

د ورځي په اوږدو کي بیا تر ماښامه د دوستانو او شناخته خېلو جوړې کورته را رواني وې. نثار آریا، سیداحمد قانع، انجنیر شیرشاه رشاد او طاهر هاند هم په دغه ورځ کور ته راغلل. سید احمد قانع ځیني خطي پاڼي د کتلو له پاره ورسره راوړي وې. داسي مهم څه مي پکښې ونه موندل. طاهر هاند په کندهار پوهنتون کي په اداري کدر کي شامل ځوان دئ. ده په هندوستان کي په ژبپوهنه کي ماسټري اخیستې ده. دی هغه ځوان دئ چي ما دده په مرسته وار د واره د سالار جنگ موزیم د خیرالبیان نسخي درې سوه مخه فوټوکاپي تر لاسه کړه چي ما ئې یادونه د خیرالبیان په سریزه (۲۱مخ) کي کړې ده.

په دغه ورځ استاد آصف صمیم له کابله تیلفون راوکړ افغانستان ته ئې زما د راتگ له اسیته ښه راغلاست ووایه او پر څنگ ئې زما د اکا د زوی د حاجي عبدالله د فاتحي عذر هم راته وکړ.

په ۱۴ اپرېل (یکشنبه) ارماني د علامه رشاد د ادبي قاموس ځیني ترتیب سوي برخي ور سره راوړي وې او په ځینو ځایو کي ئې پوښتني درلودې چي جوابونه مي ورکړل او نوري لازمي لارښووني هم هم ورته وکړې. د علامه رشاد دغه دروند څو ټوکیز اثر د علامه رشاد اکاډمی له خوا چاپ ته تیارېږي. د سر یوه برخه ئې څو کاله پخوا ما ترتیب کړې وه چي خپل ټول کار مي د اکاډمی په واک کي ورکړی دئ.

په کندهار کي زما په ورځني پروگرام کي د صحاف صاحب د دوکان تگ تقریباً حتمي برخه وه. که به بیخي په کور کي له مېلمنو سره مصروف پاته نه سوم، هرومرو به ورتلم. عموماً به له لسو بجو څخه تر غرمې پوري هورې وم. کله کله به ماځیگر هم ور چکر سوم او د شپې تر اتو نهو بجو به ورسره ناست وم. کاکا اسدالله مو د مجلس دایمي غړی وو. په دغه ورځ مي د خطي کتابو د کتلو په لړ کي د (عین العلم) پښتو ژباړه وکتله او په دا سبا مي ځیني یادښتونه ځني واخیستل چي وبه ئې ولولئ . عین العلم د شیخ محمد عثمان بلخي کتاب دئ چي د تصوف او اخلاق بیانونه لري. ژبه ئې عربي ده.3 ددغي خطي پښتو ژباړي په سر کي څلوېښت مخه مردف رباعیات راغلي دي او تر هغه وروسته د عین العلم د ژباړي برخه پیل کېږي. پیل ئې تر " یا فتاح و بهِ نستعین" او بسم الله وروسته داسي دئ :

الحمدلله ثنا واړه د مولا ده
د ادنـــــا که دا اعـلـی ده

له ازلـــــه تر ابـــــــده
بي مـــــبدأ بي مـــنتها ده

وړپسي درود شریف دئ او تر هغه وروسته ژباړونکي خپل ځان داسي راپېژندلی دئ:

اوس به حـــــال درته بیان کړم
خپل احــــوال به در عیان کړم

په نامه ســـــــــــعدالله جان یم
خاک پای د عالـــــــــمان یم

تقصیر ډېر لـــــــــرم بي حده
گـــــناهکار یم بي عــــــدده

په نسب د جــــــدران خېل یم
په جدران کښي شاپورخېل یم

په شـــاپور کښي میوخېل یم
په ښه نـــوم ئي ځني خېل یم

اعلی جد ځــــــما معمو[ل] وو
په ښه خوی خصلت مشغول وو

بل نیکه مي دولت خـــــان دئ
دی بــــــنده د پاک سبحان دئ

بل نــــــــــیکه مي بندلي دئ
منسوب شــــــوی د علي دئ

بل نیکه مي ابــــــــراهیم دئ
دی د دین د کار فـــــــهیم دئ

بل نیکه مي دري خــــــان دئ
په ده مِهر د ســـــــــبحان دئ

پلار ځما ادم خــــــــان نومي
جنتونه دي بـــــــــــیا مومي

خــــــدای دي واړه وبخښینه
ورســــــــــره میندي پلارونه

اوس استاځي د مرگ ډېر شو
هم کــــوهـــان راباندي تېر شو

سپين وېښته کنداس غاښونه
کم ليده دا گــــــواهي لينه

اوس به ځم له دې جــــهانه
بې توښه په ځـــان حيرانه

دا کتاب چي مي دلکش دئ
مـــا و رب وته پېشکش دئ

چي ځما خوار توښه دان شي
دا ســـــــفر په ما اسان شي

گنه خـــــدای راوبـــخښينه
هغه کــــــړي گناهــــونه

++++++++

د کتاب په باب وايي:

يو کـــــــــــتاب مي وليدنه
عين العلـــــــــــم نومېدنه

محبت مي ډېر پـــــيدا شه
زړه مي درست ځني ملا شه

ښې خبري ښـــــــه خويونه
پکښې دېردي بيانــــــــونه

هغه ډېر پکښې موجود دي
چي په فقه کښې نابـــود دي

...........

بار گران دئ و هــر چاته
خصوصاً و پښتان خوا ته

نور مي دا کتاب پښتو کړ
ما اســـــان په پښتنو کړ

گرچه علـــم مي قاصر دئ
طبيعت مي هـــم فاطر دئ

.....

که څه شی پکښي زياتي وي
يا نـــــقصان پکښي باقي وي

صد رحـمت په هغه کس شه
هرگــور زيات دده هوس شه

چي هغه ځای ور کښي جوړ کا
ځما غـــــــــم د ځيگر سوړ کا

دا احـــــــــسان دئ په ما باندي
زه ئي شــــوم تر احسان لاندي

د کتاب اختتام داسي دئ :" تمام شد بوقت نمازپشين روز پانشنبه شب جمعَ بدست خط ملا مولاداد ولدی خدای داد غفرلی ولوالدين ... در قری حکيم خنرخيل؟ به خير نوشته شد. الحمدلله الحمدلله".

د اپرېل پر پنځلسمه (دوشنبه) د بهير ځوانان کور ته راغلل او تر ډېره ور سره ناست وم. د شپې په شاهي سالون کي يوه واده ته ولاړم. واده ته تر تگ دمخه کاکا اسدالله خان دوه خطي کتابونه د کتلو له پاره راوړل چي يو ئي مخزن الاسلام وو او بل گنج العاشقين. د وروستي کتاب ناظم گل محمد و ميا داد زوی دئ . ځان ئي کاکړ او د کندهار اوسېدونکی بللی دئ.

د فرهنگ زبان و ادبيات پښتو په لومړي ټوک ـ ۴۱۳ مخ کي يو گل محمد کاکړ معرفي سوی دئ چي غالباً به همدا کس وي. هوري ئي کښلي دي :" در حدود ۱۲۰۰ هـ ق در نواحی قندهار سکونت ميکرد. در فقه، اخلاق و تصوف صاحب مطالعه بود. کتابی بنام شمس العابدين منظوم داشت. غزليات متفرق خطی وی نيز ديده شده است. در غزل از رحمان بابا پيروی نموده ...."

د اپرېل پر شپاړسمه (سه شنبه)مي خوريي حاجي مسعود گلالي د خپل پلار مرحوم حاجي عبدالمتين له کتابو څخه د حاجي اکولالا د پاکنويسو اشعارو کتابچه او د حاجي عبدالباقي هوتک ( خوږه وينا) راته راوړه. دا مجموعي پنځه دېرش کاله پخوا زما په واک کي وې او د ۱۳۶۴ش کال په زېري جريده ۲ ـ ۳ گڼو کي مقالي پر خپرې کړي وې. وروسته چي زه له وطنه راووتلم،په کور کي راڅخه پاته سوې چي له نېکه مرغه حاجي عبدالمتين مرحوم پخپل کتابتون کي ساتلي وې. دا دواړي مجموعي مي کاناډا ته راسره راوړي دي او که د پاک خدای رضا وه، د ټايپ او ترتيبولو کار ته به ئي اوږه ورکړم.

د اپرېل پر اووه لسمه ( چارشنبه) مي د صحاف صاحب له خطي کلکسيون څخه دوې خطي نسخي د کتلو له پاره کورته راوړې. يوه د څلوريځو يوه مجموعه وه چي شاعر ئي راته معلوم نه سو او دا بله ئي د عبدالصمد بن عبدالغفار پښتو منظوم کتاب وو. عبدالصمد ځان د نسب له مخي انصاري بولي. د زېږېدلو ځای ئي کابل بللی دئ او اصلي پلرنی ټاټوبی ئي " گيرو" را ښوولی دئ. گيرو د غزني اړونده سيمه ده چي په اوسنيو تشکيلاتو کي دغزني ولايت يوه اولسوالي ده.

په دغه منظوم پښتو کتاب کي ئې د سلوک آداب او وظایف په شعر بیان کړي دي او هر بحث ئې د الفبې په یوه ردیف کي ځای کړی دئ. ردیفونه ئې پوره او تر (یاء) پوري رسېدلي دي.

کتاب پر ژړ انگرېزي کاغذ لیکل سوی دئ. ټول مخونه ئې یواویا (۷۱) دي. رکابونه ئې منظم دي خو بل چا پر مخونو باندي عدد هم کښلی دئ. د هر نظم مقطع ئې په سره رنگ ده. د پای اختتامیه عبارت ئې داسي دئ :

" الحمد لله والمنة که به اتمام رسید این چند اشعار پشتو برای نفع عوام الناس که مشتملست بر دو نوع یکی آنکه در بیان صلوة و دیگر آنکه در بیان شرک. و هذه الاشعار ما قال بفمّهِ و رقم بقلمهِ فقیر حقیر پُر تقصیر الرّاجی الی غفران الاحد عبدالصمد بن عبدالغفار الانصاری نسباً والکابلی مولداً والگیروی وطناً رضی الله عنهما و ادخلهما الجنان بروح والرّیحان آمین ثم آمین ثم آمین".

په دغه ورځ ماځیگر احمد صمیم صاحب، ورور ئې حاجي ظاهر جان، انجنیر عبدالباقي بینا، حاجي احمد ولي، جانان مؤمن او څو نور کسان کورته راغلل. د ماښام تر لمانځه پوري راسره ناست ول. لمونځ ئې زما په استوگنځي کي په جماعت راکړ او نور ئې رخصت واخیست.

د اپرېل پر اتلسمه (پنجشنبه) د ښار د ځینو برخو دوکانونه تړلي ول. دولتي مقاماتو د سولي د ملاتړ له پاره مظاهره ترتیب کړې وه. د ورځي په کور کي وم. د روزگان والي حاجي اسدالله کندهار ته زما د راتگ له اسیته د ښه راغلاست له پاره تیلفون راوکړ. ډېر صمیمیت ئې وښوو.

په همدې ورځ ماپښین پر درو بجو د کندهار د اطلاعاتو او کلتور ریاست په ودانۍ کي د حاجي حیات الله رفیقي د ستاینغونډې تابیا نیول سوې وه. دې غونډې ته ئې زه هم بللی وم. زه پر ټاکلي وخت او ساعت د ریاست ودانۍ ته د خپل خوریي په ملتیا ورسېدم. د ریاست د ودانۍ دروازه تړلې وه. پیره دار ئې له غونډې څخه ناخبري وښودله. زما د اصرار له امله ئې ولاړ او د مسئولو کسانو څخه ئې پوښتنه وکړه. بیرته چي راغی، راته وېویل چي تاسي ډېر وختي راغلي یاست. غونډه ناوخته پیل کېږي. زه بیرته کور ته نسوای ستنېدلای، نو مي هیله ځني وکړه چي ددنه د ریاست په چمن کي د انتظار له پاره د ناستي اجازه راکړي. کور ئې ودان، موافقه ئې وکړه او موږ د ودانۍ په غولي کي غونډې ته منتظر کښېنستلو. په دې وخت یو و نیم ځوانان هم لکه د ماتي سپاره راورسېدل. زموږ مجلس تود سو او نور مو د انتظار شېبې په باندار تېرې کړې. یو گړی وروسته د غونډې مسئولین هم را ورسېدل. د انتظار له بابته ئې بخښنه وغوښتله او د مظاهرې له اسیته ئې د ښار د واټونو بندېدل د غونډې د ځنډ دلیل وباله. وروسته استاد حیات الله رفیقي او الحاج فضل محمد پنهان او نور شناخته خېل هم راغلل او زموږ باندار ښه گرم سو. زموږ د مجلس په منځ کي د ږغ وسو چي غونډه پیل کېږي او ټول ئې سالون ته وبللو. د غونډې انتظام او د ویناوالو لیکني راته په زړه پوري وې. هر یوه د خپلي اړوندي موضوع په باب خواري کښلې وه او د استاد حیات الله رفیقي د فرهنگي کارو او ښوونیز روزنیز فعالیت ئې ډېر مثبت ارزیابي کړ. د غونډې په پای کي ما ته هم د خبرو موقع راکول سوه. ما غونډه بریالۍ وگڼله او د استاد رفیقي پر کار او زیار مي کما حقه د ستاینې خبري وکړې.

د وینا والو په مقالو کي د گران ذهین لیکني زما پاملرنه ځان ته واړوله. ذهین ځوان لیکوال دئ او د څېړني استعداد هم لري. ماته ئې د مولانا ابوالوفا صاحب پر دلیل القرآن باندي خپل ترسره سوی کار را ښکاره کړ. څو چاپه ئې برابر کړي ول او غوښتل یې چي له ټولو څخه یو سم او کره متن برابر او چاپ کاندي. ما د متن پر برابرولو خپل نظر ورته بیان کړ.

د شپې مې په کور کې د صحاف صاحب د خطي کلکسیون یوه نسخه سرسري وکتله او دغه لاندې یاداښتونه مې ځنې واخیستل :

دا خطي کتاب چې د پښتو څلوریځو یوه ضخیمه مجموعه ده، هم زما تر چتک نظر تېره سوه. دا مجموعه ( تحفة الطالبین) نومېږي. د کتاب د سر برخه کنډو ده او د سریزې درې مخه چې د شاعر له خوا لیکل سوې دي، پاته دي. په دې درېو مخو کې ئې د کتاب د لیکلو په اړه یو لړ مطالب کښلي دي او وایي :

" ... او دا کتابِ رباعیات مسمی دئ په تحفة الطالبین ولې په معنی کښې تحفه دئ د طالب علمانو ..4. چې دغه اسم له مسمی سره موافقت کوي. طالب علمان دې په مجلس خپل قبول کهٔ اگر چه لیاقت نه لري ولې چې طالب علمان ډېر اکابِر خلق دي ..."

شروع ئې:

بسم الله الخ

حـــــــــمد ثنا د خـــــــــدای رحـــمن کرم
چې مـــــــوصوف ئې په ایـــــــمان کړم

د ایمان خلعت جــــــــــوړ راکړ و ماته
ځکه ئې پــــه هــر ساعت ښیوه د ځان کړم

+++++++++++

ثنا ستا به کـــــــــړم خالقه
په لـــــحمي ژبه ناطـــــــقه

چې ثنا د خدای ته نه کړې
نور به څه کړې اې فاسقه!

موجود پای ئې داسې دئ:

د عدو مغزی پرې مات کهٔ
چې دشــــمن ئې الله یاد کهٔ

د دشــــــمن ویره به وشي
دا خپل عــمر به برباد کهٔ

د کتاب ټول موجود فصلونه دروڅلوېښت دي. دروډېرشم فصل په صحافت کې له خپله ځایه ایسته سوی او په پای کې ورلوېدلی دئ.

د هر فصل مطالب ئي په رباعياتو کي ځای کړي دي. فصلونه ئي د حق تعالی د حمد و ثنا، د حضرت محمد (ص) ،د څلورو يارانو، د هغوی د خلافت د مودې، د جنتو د دوزخو، د ځينو دعاوو او اورادو ، .... په باب دي.

د فصلو عنوانونه په سره رنګ دي او ځای ځای ئې رنګ پيکه سوی دئ. خط ئې د لوستلو وړ نستعليق دئ. له اعرابه هم کار اخلي. (ګ) د (ک) په شکل او (ځ) د (ز) په شکل کاږي. د (کښي) پر ځای (کښ) او د (چي) پر ځای (چه) ليکي.

پنځه دېرشم فصل ئي " رباعيات په بيان د شکست نفس او مذمت د نفس او د هجران له لاسه او د عشق د اشتياق د محبت پرې دپاسه" سرليک لري. په دې فصل کي ځيني سوزناکي څلوريځي سته.

کتاب ناقص الآخر دئ. ناظم، کاتب او د ليکلو کال ئې ټول نامعلوم دي.

د اپرېل نونسمه ورځ د جمعې ورځ وه او زما اشنا حاجي اختر محمد خان ددوی پلرني ټاټوبي زنګاوات ته د تګ پروګرام جوړ کړی وو. زنګاوات د پنجوايي اولسوالۍ اړونده سيمه ده چي خورا ډېر لوی و کوچني کلي لري.د جمعې په ورځ سهار مو زنګاوات ته حرکت وکړ. د لاري ملګري مي پر حاجي اختر محمد خان برسېره دده زوی حاجي عبدالسلام (پاچا) او انجنير .... ول. زنګاوات ته زه شپږ.څلوېښت پخوا تللی وم. هغه وخت به موږ هر اختر زنګاوات ته د حاجي اختر محمد خان کره ورتلو. د دوی کور د زنګاوات په بيلومبي کلي کي وو.هغه وخت دده قبله ګاه او محترم اکاګان ژوندي ول. دده اکا محمد کريم خان خورا صميمي او اجتماعي شخصيت وو. زموږ. بانډارونه به زياتره له ده سره ول. دغه جريان حاجي اختر محمد خان پخپله هغه ليکنه کي بيان کړی دئ چي زما پر کتاب ( پښتني قبيلي او روايتي ريښې) ئي کښلي ده. زه له وړکتوب څخه هم پنجوايي ته ډېر تلم. د پنجوايي په محمدزو کي زما يوه خاله په سردار عبيدالله جان واده وه. عبيدا لله جان د سردار حبيب الله خان ( اغا لالا)زوی، د سردار عبدالباقي خان لمسی،د سردار محمد انور خان کړوسی، د سردار خوشدل خان کوسی او د سردار مهردل خان مشرقي بن سردار پاينده محمد خان کودی دئ. په پنجوايي کي مي ددغي خاله په کور کي د وړکيني ډېري خاطرې سته. زه چي څه را لوی سوم، د ښکار شوق مي د همدغه عبيدالله جان له لاري واخيست. عبيدالله جان د خپل وخت ډېر مشهور او نامتو ښکاري وو. اوس په کاناډا کي اوسي. عمر ئې د نوي کالو په شاوخوا کي دئ. هغه وخت پنجوايي له ښار څخه ليري پرته سيمه ګڼل کېده. خو اوس چي څه د پاسه څلور لسيزي وروسته ورغلم، د سرپوزې له څلور لاري څخه بيا د پنجوايي اولسوالۍ تر بازار پوري د سړک پر غاړه پرله پسې ودانی، کورونه او دوکانونه ليدل کېدل. پخوا چي به موږ له ښار څخه پنجوايي ته تلو، د سرپوزې تر دوکانو چي به تېر سوو، بيا مو د پنجوايي تر مرکزي بازار پوري کومه ودانی يا دوکان مخي ته نه راتلئ. د لاري په اوږدو کي د يادوني وړ ځای د (مار غر) وو چي د سړک شمالي خواته غځېدلی پروت دئ. ددې غره په منځنۍ برخه کي د يوه تور مار په شان طبيعي ډبره د غره له سره څخه مخ پر کښته پرته ده. ددې ډبري په باب سيمه ييزو خلکو ډېر افسانوي روايتونه جوړ کړي دي. زما د وړکتوب په وختو کي به خلکو ويل چي په ډېرو پخوا زمانو کي به يو غټ ښامار پر دغه غره راووښت او د شا وخوا کليو څخه به ئې ژوندي انسانان تر خولې تېرول. خلک ډېر ځني په تکليف ول او دفع ئې هم نسوای کولای. وايي چي يووخت شير د خدای ( حضرت علي کرم الله وجهه) دلته لمونځ کاوه او په دغه وخت کي ښامار پر غره راواوښت. شېر د خدای سلام وګرزاوه او په ذوالفقار ئې ښامار پر سر وواهه او هغه سمدلاسه په ډبره بدل سو. خلکو دې روايت ته د حقيقي داستان په سترګه کتل او له دې حقيقته ناخبره ول چي حضرت علي کرم الله وجهه دې سيمي ته هيڅوخت تشريف نه وو راوړی. په هر صورت اوس هم د مار غر د هماغه

ښخوا په شان په عظمت ولاړ دئ او توره ډبره ئي د مار په بڼه ځلیږي. ماته ئي کتلو ښخوانۍ خاطرې را په یاد کړې او نه پوهیږم چي ددغه افسانوي مار په باب به اوس هم په کلیوالو کي هماغه ښخوانۍ روایت موجود وي او که به ئې نوري خبري هم پر زیاتي کړي وي. د مار غره ته چي مي کتل، له ښخوا څخه ئې توپیر دا وو چي اوس ئې په لمنه کي د خورا ډېرو شهیدانو او نورو قبرو جنډۍ رپېدلې. دا هدیرې زیاتره له روسانو سره د جهاد په کلونو کي جوړي سوي او د وروستیو کلونو په جنګو کي پراخي سوي دي.



د مار غر ــ د مار انځور د توري ډبري په شان پکښي څرګند دئ

هغه وخت د پنجوايي بازار فقط یو څو محدود خټین دوکانونه درلودل. خو اوس چي موږ وکتل د یوې ښاري سیمي په شان غټ او کوچني دوکانونه پکښي اباد سوي ول.

ددغو دوکانو لویدیځ لوري ته یو بل غر شمال او جنوب پروت دئ چي د (ماسم غر) ئي بولي. ددې غره په لویدیځه برخه کي څو کاله دمخه د نړیوال ائتلاف د کاناډايي عسکرو یو لوی کمپ

پروت وو چي د کاناډا صدراعظم ...... هم دغه غره ته د خپلو قطعاتو د کتني له پاره تللی وو.
په هغه وخت کي ما ددغه غره د نامه او موقعيت په باب يوه ليکنه په مېډيا کي خپره کړه چي دلته به ئې هم را نقل کړم.

" ماسم غر

په لويديځومطبوعاتوکي ورو ورو دافغانستان په تېره بيا کندهار دشاوخواسيمو، کليواو اولسواليونومونه عام کيږي . داسي يووخت و، چي عام لويديځوال ان دافغانستان له نامه سره لاهم اشنانه ول. زه په ۱۹۷۳ع کال ديوه لنډ سفرله پاره له افغانستان څخه اروپاته دمځکي له لاري تللئ وم . دسفرتګلورى مي ايران ، ترکيه، بلغاريه،يوگوسلاويه ، اتريش اوجرمنى وو. په دې ټولوهيوادوکي چي به مي دافغانستان نوم عامه وګړوته واخيست ،يابه ئې بيخي ونه پېژانداويابه ئې نو پاکستان واورېد اوکله چي به ئې زماله خواپه ماته ګوډه ژبه توضيحات واورېدل نوبه ئې دونه سرخالص سو، چي دمځکي پرمخ د افغانستان په نامه کوم هيوادهم سته . دوروستيودريو لسيزو پېښو د افغانستان نوم اوپه هغه کي بيادکندهارنوم دنړيوالوغوږوته ورساوه. خوله بده مرغه ديوه جنګ ځبلي هيوادپه توګه ئې په وپېژاند. دداسي هيوادپه توګه چي دانسان ژوندپکښې دخاشې ارزښت نه لري ! دنړۍ په مطبوعاتوکي اوس دپنجوايي، تولوکان ، اشوغې ، ژيړۍ دښت، سپين بولدک ، ... ، اوماسم غرنومونه ډېرليدل کيږي . د ماسم غرنوم مي دکاناډاپه مطبوعاتوکي څوواره لوستلئ دئ . ددې غره نوم په هغوورځوکي ډېرواخيستل سو، چي دکاناډا صدراعظم ستيفن هارپر ديوه ناڅاپي سفرپه ترڅ کي کندهارته ولاړاو له دغه غره څخه ئې د پنجوايي سمسوره اولسوالي په دوربين کي وکتله . داچي لويديځ وال له افغانانوڅخه څه غواړي اود افغانستان دبدمرغه اولس په تندي کي به لا نوري څه خوارۍ اواريانۍ ليکلي سوي وي ، زماددې ليکني موضوع نه ده ، زماپاملرنه دماسم غره ځان ته اړولې ده . دماسم غرنوم ماته دزلميتوب خاطرې رايادوي . هغه خاطرې چي ما به ددغه غره له څوکي څخه دقبلې لورته دارغنداومست سينداو پرشا وخوابه مې دانګوروشنه باغونه کتل اولمرخاته ته به مي د پنجوايي اولسوالۍ بازار، دپنجوايي خندق ، دارماړې شاوخواباغونه ـــ جنوب ختيځ ته به مي د ذى آب چمنونه او د خيبري غر کوت ـــ شمال ختيځ ته به مي د مارغره لړۍ اودهغه شمال ختيځ ته به مي بيا دبدوانوغراو د اشوغې تماشاکوله . دې ټولو سيمو هري يوې له ځانه سره تاريخي او افسانوي روايتونه درلودل . داشوغې نوم دپوهانوپه نظرداشوکاله نامه سره اړيکى لري اواشوکا خو د هندوستان له موريايي پاچهانوڅخه يو پاچاو، چي دژوندزمانه يې ترميلاد دمخه ۲۷- ـ ۲۳۲ کلونوته رسيږي ــ دخيبري غردمحلي رواياتوله مخي له يوې افسانوي ښځي سره تړلى دئ ، د بدوانوغر د شمشيرغار له اسيته تاريخي کتابوته لار پيداکړې ده ، دمارغردهغي توري ډېري ديوه رګ له بابته عام سوئ دئ ، چي دمارشکل لري اوددغه غره له شمالي خواڅخه جنوبي خواته را اوښتئ دئ . نودماسم غرنوم له څه سره رابطه لري ؟ زمادغه لنډه څېړنه پرهمدې نامه راڅرخي . دماسم غردپنجوايي اولسوالۍ دبازارلويديځ لورته پروت دئ . پخوا چي به موږ داولسوالۍ له بازارڅخه مخ پرقبله داولسوالۍ له ودانۍ او د شمس الدين کاکړ له ليسې څخه تېرسولو، نور به سړک ديوه نسبتاً لوړغره په بېخ کي مخ پرجنوب غزېدلئ وو. داسړک چي به دشيخ قلندر زيارت ته ورسېدئ ، بيرته به يې مسيرمخ پرلمرلوېده دارغنداورودخانې ته به شيوه سو او بيا به همداسي مخ پرجنوب کوږووږ تر سپيروان ، زنګاوات ، موشان اوتلوکان پوري رسېدئ . پاى ئې د ارغنداو، ترنک اوډورۍ رود ديوځاى کېدوبرخي ته درېدئ . داځاى يې دوآوباله. دشيخ قلندرزيارت دسپيروان په سکيلچه کي دئ . دسکيلچې دنامه څېړنه به بل وخت ته پرېږدو. شيخ قلندردسبزوارله سيدانوڅخه وو، چي کندهارته راغلئ او د مرګ تر وخته ئې په همدې سيمه کي دحق د لاري په ارشاداوتلقين کي خوارۍ کښلي وې . دسبزوارپه نامه د فراه او هرات ترمنځ هم يوه سيمه سته چي اوس ئې نوم په (شين ډنډ) سره اوښتئ دئ اوبل دايران دخراسان په ولايت کي . داخبره لاتراوسه سپينه سوې نه ده ، چي شيخ

قلندربه له کوم سبزوارڅخه کندهارته راغلئ وو . دشيخ قلندرنوم سيدمحمد او د سيدحسين زنجيرپا زوى وو. د ژوندزمانه ئي د ذوالنون اوشاه بيگ ارغون له واکمنيوسره برابره ده . مړينه ئي په د۹۳۳هـ ق کال دعاشورې په ورځ پېښه سوې ده . دسيد شيرقلندرپه اولاده کي يوتن ميرمعصوم قندهارى البهکرى الحسيني نوميږي . ميرمعصوم دسيدمحمدصفايي زوى وو، چي دپارسي ژبي پوخ شاعراوليکوال وو . خورابنه خط ئي کيښ . په شعرکي يي (نامى) تخلص کاوه . دشعربشپړديوان يي پاته دئ . په نثرکي يي د(تاريخ سندهـ )په نامه يومهم کتاب کښلئ دئ . داکتاب د(تاريخ معصومي)په نامه هم مشهوردئ . ميرمعصوم (نامى) په ۹۴۴هـ ق کال دسندهـ په بهکرکي زېږېدلئ اوپه ۱۰۱۹هـ ق کال په همدغه ښارکي مړاوپه سکهرکي پريوه لويه غونډۍ باندي ښخ دئ . د ميرمعصوم پلارپه ۹۹۱هـ ق کال مړسو او دى د مغولو د زماني هندوستان ته ولاړ. په هندوستان کي ئي مغولي پاچا جلال الدين محمد اکبر( ۹۶۳ ـ ۱۰۱۴هـ ق) دربارته ځان ورساوه . پر اکبر باندي ډېر گران سواو د يو زرتنومنصب ئي ورکړ. جلال الدين اکبرچي عبدالرحيم خان خانان دکندهاردنيولوله پاره وگوماره (۱۰۰۲ هـ ق) ، په دغه لښکر کي ميرمعصوم هم ورسره وو. خان خانان له صفويانوڅخه دکندهارښار ونيو. ميرمعصوم په ۱۰۰۴هـ ق کال بياکندهارته ولاړاوداوار ئي په کندهارکي درې کاله تېرکړل . په دې دريوکلونوکي ئي دکندهاردچهل زينو په غره کي ، دقيتول په غره کي ، دشيخ قلندردزيارت په غره کي ، دخاکرېزدشاه آغاپه زيارت اوځينوروځايوکي په ډبروکي کتيبې وکيندلې . ددې کتيبومفصله څېړنه علامه رشاد(رح)پخپل پياوړي اثر(دکندهاريادابښتونه) کي کړې ده . ميرمعصوم (نامى) دشيخ قلندر زيارت ته څرمه دغره په پاڼ کي دوې کتيبې کښلي دي ، چي وايي يوه ئي ورانه سوې اوپربله ئي دغه بيتونه سته :

درين آرامگاه ، بى ره و رو
اگرمردى منه دل يکسرمو

ازين منزل که ياران دررحيل اند
ترا آن جمله در رفتن وکيل اند

تر اگرآسمان منزل نشين است
هم آخرجاى تو زيرزمين است

بيا" نامى" بکارخودبگرييم
زمانى برمزارخودبگرييم

ماته دماسم غردنامه له اورېدوسره دميرمعصوم (نامى) نوم ذهن ته راگرزي اويقين ته په نژدې گومان سره ويلاى سم ، چي دماسم غرد همدغه ميرمعصوم له نامه سره تړلئ دئ .

اوکويل ـــ کاناډا
۲۰جون ۲۰۰۷ع"

ددې مقالې تر ليکلو وروسته ددغي سيمي يوه اوسېدونکي د تيلفون له لاري راته وويل چي پر دغه ځاى يوه کلا هم سته او د ماسم کلا په نامه يادېږي. البته مراد به ئي دا وو چي ددغه غره

د نامه نسبت به هم همدغه شخص ته وي. خو دې معلوماتو ماته پر خپل ګومان باندي د نوي کتني اړتیا لازمه ونه ایسوله.

د ماسم غره لویدیځي خواته د حاجي ګلون بابا په نامه یو زیارت سته چي پخوا به معمولاً ښځي ډېري د زیارت له پاره ورته راتلې. پخوا چي ما دا زیارت لیدلی وو، ګومبته او شنخته ئې نه درلوده. ددې وار چي مې زیارت وکړ، پخه ودانۍ پر جوړه سوې وه. د کندهار د زیارتو او مشاهیرو په باب چي کوم آثار زما تر نظر تېر سوي دي لکه د کندهار مشاهیر( د محمد ولي ځلمي لیکنه)، د کندهار زیارتونه ( د علامه رشاد تالیف)؛ په هغو کي د حاجي ګلون بابا په باب څه نه مومو. کندهاري شاعر ملا محمد عیسی حکیم چي په انجمن عشاق ۵ ـ ۸ مخونو کي د خدای د نازولو یادوني کړي دي، په هغو کي ئې د حاجي ګلون بابا نوم راوړی دئ :

"سخي حاجي ګلون دئ، په سوزني کي حسین شاه"

له دې یادوني څخه هم تر نامه په ها خوا نور معلومات نسو موندلای. د (ګلزار قندهار) مؤلف حاج شیخ محمد حسن مولوی قندهاری د خپل دغه کتاب په ۱۱۷ مخ کي لیکلي دي :

" ... در بین زنگی آباد و سفیدروان زیارتی است به اسم حاجی ګلون و بسیار تفحص نمودم ترجمهٔ زندګانیش را نیافتم".

په دې وروستۍ کتنه کي مې د زیارت د نوي اینوول سوي شنختي له مخي وموندل چي حاجي ګلون بابا د ږوب کاکړ وو. درې سوه کاله پخوا له ږوبه کندهار ته راغلی وو. په سوو مریدان ئې درلودل. آثار ئې لیکلي ول او د شیخ الحدیث لقب ئې هم له نامه سره کښلی وو. دا شنخته د حاجي فیض محمد کاکړ په نامه دده د یوه لمسي په فرمایش په ۱ / ۵ / ۱۳۹۰ش ترتیب سوې ده. پخپله مې له حاجي فیض محمد کاکړ سره د لیدني کتني موقع برابره نه سوه. که مې ددې کتني فرصت موندلای وای، ښایي ډېر څه مې تر لاسه کړي وای.

د حاجي ګلون بابا تر زیارت وروسته د سید شیر قلندر (رح) زیارت ته ولاړم. د سیمي خلک ئې د شیخ قلندر زیارت بولي .دا زیارت چي مې هم څه کم پنځوس کاله پخوا لیدلی وو، اوس ډېر بدلون پکښې راغلی وو. پخوا ددې زیارت ماجر په اومو خټو ودان وو. څنګ ته ئې یوه ډېره ستره ډېره د یوې بلي وړې ډېري په اغاز په معجزه آمېزه توګه معلّقه ولاړه وه چي اوس ئې درک نه وو او له منځه وړل سوې وه. پخوا په ورځرمه غره کي دد د لمسي میر معصوم بکهري په لاس یوه کتیبه کیندل سوې او هغه بیتونه پکښې حک سوي ول چي د همدې لیکني په ۳۳ مخ کي راغلي دي .

ددې کتیبې هڅه مو هم وکړه ، خو څه لاس ته رانغلل. د قبر پر سر د یوې شنختي یا کتیبې یوه کوچنوټي ټوټه پرته وه، چي د لوستلو نه وه. څرنګه چي زموږ د ورتګ په وخت کي څو تنو مېرمنو یوه ناروغ ماشوم زیارت ته راوستلی وو، موږ ددغو مېرمنو د نه مزاحمت له اسیته ډېر پاته نه سوو او د عکس اخیستلو موقع هم برابره نه سوه.

سید شیر قلندر(رح) د سید حسین زنجیر پا زوی دئ. په ځینو ماخذو کي ئې د بابا حسن ابدال سبزواري زوی بللی دئ. وایي چي له وړکیني څخه د سیر و سلوک و ریاضت تمرین کاوه او ځان ئې لوړو مقاماتو ته ورساوه. د شیر قلندر اصل نوم سید محمد دئ. سید د امیر ذوالنون او شاه بېګ ارغون د زماني سړی دئ. امیر ذوالنون د هرات له ګورګاني امیرانو څخه وو. په ۸۸۴هـ ق کال د سلطان حسین بایقرا په امر کندهار او شاوخوا سیمي ونیولي او ددې ځای واکمن

سو. شاه بيگ ارغون د امير ذوالنون زوی وو چي له ۹۱۳ هـ ق څخه بيا تر ۹۲۸هـ ق پوري د کندهار حاکم وو. نو د سيد شير قلندر د ۹۳۳ هـ ق کال د عاشورې په ورځ وفات سوی دئ5.

د شيخ قلندر بابا له زيارت څخه مو د تلوکان د ملاحسن اخوند عليه الرحمه د مزار په نيامت حرکت وکړ. بايد ووايم چي له ښار څخه بيا تر تلوکان پوري سړک د امريکايانو له خوا ډامبر سوی دئ. پر لاري مو د شاوخوا سيمو له کتني څخه وفهموله چي د سږ کال پرله پسي بارانونو کروندې ټولي زرغوني کړي وې او د انګورو باغو ته چي دي کتل ، بلګونو ئې له تازه ګی څخه د چا خبره خندل. د سړک دواړو غاړو ته مو د تارياکو فصلونه هم څو ځايه په سترګه سول چي پر ځينو ئې د نېش وهلو په نيت خلک مشغول ول.

ترشاوخوا شلو دقيقو تګ وروسته د ملا حسن اخوند مزارته ورسېدو. د توتانو په تکيه کي مو موټر ودراوه او موږ زيارت ته چي د اوږدو افقي زينو له لاري وختلو. پر زيارت باندي پخه ګومبته او ودانی ولاړه وه. پخوا چي زه دغه زيارت ته راغلی وم، مزار ئې د وچو خاشو (کېږتو) په منځ کي واقع وو. قبر ئې شنخته درلوده چي اوس هم پر ولاړه وه.عکس ئې په ورپسي مخ کي دئ.

زيارت مي وکړ او خپلو ملګرو ته مي وويل چي ماته مي خپل استاد ملا عبدالسلام اخند يووخت په همدې زيارت کي ويلي ول چي د ملا حسن اخند صاحب له خولې روايت داسي دئ چي وايي ده وصيت کړی وو چي " زما مزار ته که څوک راځي ، قبر ته دي مي له دوعا وروسته دا لاندي بيتونه ووايي":

هـغـه چـاري چي زمـا پـر خاطر اوري
شيخ ئې نه ويني په خواب مُلا په توري

مــاول زه بــه لا ديـــدن کـــرم د يـارانو
زه چي راغلـم ياران نه وه مېني توري

سپيني ږنبي مي د رباط پــه پوټي وسوې
خپل اشنا په تش نظر نــه راتــه ګــوري

چي چندن لره ورځي سر خــو بــه بايلي
د افـعي مــارانــو ځـای د چندن سيوري

د "حسن" زړګی هـغـو مـعشوقو يووړ
چي مدام تر نــقاب  لاندي سترګي توري

ملا حسن اخند په قوم ساګزی وو. په پښتو او فارسي ئې شعر وايه. فارسي ديوان ئې چاپ سوی دئ او پښتو اشعار ئې خواره واره سته. دده د وفات کال په ( پښتانه شعراء ۱ / ۳۹۷مخ، تذکرة الشعراء ۱۳۴ مخ، د کندهار زيارتونه ۱ / ۸۵ مخ، د کندهار مشاهير ۲۶۱ مخ د ۱۳۸۶ش چاپ) کي ۱۲۴۵هـ ق ښلل سوی دئ. خو دده د قبر پر شنخته ئي د وفات کال ۱۲۰۱ هجری ليکلی دئ. د شنختي عبارت داسي دئ :

" خدای دي ټوله مړه وبخښي

تاریخ وفات روح الایمان و وسیلت الجنان ملا محمد حسن افغان ساکن قریه تلکان من قراء اشرف البلاد قندهار قوم اسحق زائی اوازه ائی احمد زائی خیل میداد فی سنه هجری ۱۲۰۱ ـ خادم خادمان سید محمد ولد فیض محمد ساکن قریه مذکور متولی مذکور "

وروستۍ برخه ئې تر (ساکن) وروسته ما همداسي ولوستله .

د زیارت متولی حاجي ګل محمد نومېدی. د زیارت څنګ ته ئې د مېلمنو خوني جوړي کړي وې. موږ ته ئې چای راکړې. ما د ملا حسن اخند صاحب د آثارو پوښتنه ځني وکړه. په جواب کي ئې راته وویل چي دده مشر ورور په وېش (چمن) کي اوسي. له هغه سره ئې دوه کتابه سته. ماته ئې د زیارت دګومبتي د ترمیم یادونه وکړه چي د بارانو له اثره ئې یو بغل شوړېدلی وو. غالباً به ئې پر ما باندي د کم سرکاري شخص خیال کړی وو.



د ملا حسن اخند د قبر شنخته

تر زيارت وروسته مو مخ پر بيلومبي ونيو او پسله څو ځلوېښت کاله مو بيا د قدردانو مشرانو پر هغه مېنه سترگي روښانه سوې چي ما او زما انډيوالانو ته ئي هر وخت د مېني او اخلاص ياد پري ايښی وو. کلی او د حاجي اختر محمد خان دوی کلاوي و کورونه ټول نړېدلي ول. هغه باغ چي موږ به د کشمشخاني پر سر مجلسونه کول، اوس نور نه وو. د جنگو پر وخت هوار سوی وو خو اوس بيرته د حاجي صاحب او زامنو په همت ئي د انارو باغ ځني جوړ کړی وو. خالصه مځکه ئي هم وه او له هغې څخه د پالېز کار اخيست. دوه درې سرايه ئي پکښې ودان کړي ول. د مېلمنو له پاره ئي دوې خوني او نور لوازم پکښې جوړ کړي ول. ښه د خوند غرمه مو پکښې تېره کړه. د حاجي اختر محمد خان ناظر چي دوی خان ورته وايه، د مېلمه پالني ټول شرايط برابر کړي ول. ښه قدردان سړی وو. له يوه ځوان سره چي مطيع الله نومېدی او ښه په ژبه پوه ځوان وو، هم معرفي سوم. ځينو پوښتنو ته مي جوابونه وويل. ماپښين قضا له دغه ځايه مخ پر ښار بيرته روان سو. پر لاري مي خور له ويرجينيا څخه تيلفون راوکړ او د جوړ و روغ پوښتنه مو سره وکړه. لمر لا ولاړ وو چي عينو مېني ته راورسېدو.

د اپرېل پر شلمه (شنبه) مي سهار د حاجي نجيب الله په ملگرتيا هديرې ته د شنختو ډبري ورسولې. د هديرې گاونډي حاجي عبدالله ته مو د سميټو او مسالي له پاره سپارښتني او پيسي ورکړې. وعده ئي وکړه چي سر له سبا به ئي کار پيل کړي.

زه له هديرې څخه د صحاف صاحب دوکان ته ولاړم. له صحاف صاحب سره په خبرو لگيا وم چي يو جگ لوړ مشر سړی دوکان ته راننووت. پر ما چي ئي سترگي ولگېدې، له واره ئي وويل :" دا معصوم خان نه دئ؟" ما په جواب کي ورته وويل :" معصوم يم، خو خان نه يم". سړی مي ځای ته رانه ووست. پوښتنه مي ځني وکړه. راته وېويل چي" عجب! همصنفي هم د چا هېرېږي؟" بيا مي هم ونه پېژاند. وروسته ئي د ښوونځي د وخت بيان راته وکړ. ورو ورو مي ځای ته راووست. دی په ميرويس لېسه کي د څو مياشتو له پاره زما همصنفي وو. بيا کابل ته ولاړ او دارالمعلمين ته شامل سو. نور حال مي ئي نه درلود. ده راته وويل چي د حامد کرزي په وخت کي په کوئټه کي د افغاني قونسلگرۍ مسئول وو. دده په مالي ملاتړ ډاکتر عبدالرؤف رفيقي د سراج الاخبار لومړی ټوک کاپي چاپ کړی دئ. دا ټوک ماته ډاکټر رفيقي راکړی وو او د جنرل قونسل عکس مي پر وقايه کتلی هم وو، خو بيا مي هم له حافظې څخه وتلی وو. تر دې وروسته به زياتره ورځي زما دغه همصنفي الحاج غلام محمد خان بهادر صاحب د صحاف دوکان ته راتئ او زړې خاطرې به مو سره تازه کولې.

د صحاف صاحب دوکان ته بسم الله خان هم راتئ. ماته ئي ډېر اخلاص او مينه څرگندوله. ډېر قدردان او منوّر ځوان وو. هغه تېر وار چي هم زه کندهار ته تللی وم (۲۰۱۵ع)، بسم الله خان زموږ کور ته دوه درې واره زما ليدو ته راغلی وو. ښه د زړه ډک ، پر وطن مين او منوّر شخص دئ. کله چي په کابل کي د ډاکټر اشرف غني حکومت مشورتي لويه جرگه رابللې وه، بسم الله خان د کندهار په استازو کي شامل وو او کابل ته ولاړ. زه دده تر بيرته راتگ ترمخه کاناډا ته راروان سوم.

د اپرېل پر يوويشتمه د حاجي احمد ولي خان کره مېلمه وم. دی زما اخښی او زما د استاد اروانښاد مدير صاحب محمد نبي خان منځوی زوی دئ. مېلمستيا ته ئي احمد صميم صاحب، حاجي اغا شيرين، حاجي نجيب الله او حاجي محمد شفيع هم رابللي وه. له کراچي څخه حاجي عبدالرحمن ( د حاجي احمدالله خان الکوزي کشر ورور) هم رابللي ول. شپږويشت کاله وروسته مو سره وليدل. د کورنيو د جوړ روغ بوښتني مو سره وکړې.

تر مېلمستیا وروسته د پخوا په شان د صحاف دوکان ته ولاړم. د صحاف صاحب له خطي کلکسیون څخه مي څو کتابونه را واخیستل او کورته مي د کتلو له پاره راوړل. په دې کتابو کي يو د ملاقطب اخند کتاب وو.

ملا قطب اخند توخی د کندهار په صاحب الحالو علماوو کي د نامه څښتن تېر سوی دئ. وايي چي د ملا دوست محمد هوتک له تربيت يافته ګانو څخه وو. ملا دوست محمد د سردار کهندل خان د قاضی القضات قاضي غلام محمد ورازه وو چي د ملا قطب اخند د روزني وظيفه ورته مشهور صوفي محمد رسول ساکزي مشهور په صوفي صاحب سپارلي وه. ملا قطب اخند د جوشيانو په مسجد کي استېدئ. دا مسجد د هرات دروازې په جنوبي کلافصيل کي واقع دئ.

د صوفي صاحب د قبر د کندهار د پخوانی فرقي شمالي دروازې ته مخامخ د شاه ولې پر غاړه دئ6.

د ملا قطب اخند ددغه کتاب نوم ئي (صلوتيه) کښلی دئ او په پيل کي ئې په سره رنګ کښلي دي :" اين کتاب مسمی بصلوتيه من تصانيف قطب الاقطاب قطب هذه الزمان ميباشد"

شروع ئي داسي ده : " الحمد لله رب العالمين والصلوة واتسليمات والبرکات علی من هو امام المقربين و علی آله واصحبه و اشبعه الی يوم الدين.

بدانکه چون نماز ستون دين است ازين سبب است که دين عبارت از چهار چيز است اول اعمال، دويم اخلاق ، سيوم ...."

پای ئي : " تمت تمام شد هذه الرساله صلوتيه که از تصنيف فضيلت پناه حقيقت آګاه کمالت دستګاه قطب الاقطاب ملا قطب الدين قندهاری در تاريخ يوم دوشنبه ۱۰ شهر ذی القعدة الحرام ۱۳۲۲ بدست خط حقير فقير پرتقصير عبدالقدوس قوم خروتی غفرالله له ولوالديه برحمتک يا ارحم الراحمين. فقط".

د ملا قطب اخند نور تاليفات ( تحفة الدرويش) او( بدرالشروح) نومېږي او د( صلوتيه) کتاب نوم ئي ما (هوتک) ته نوی دئ. ښايي بل ځای به ئي هم يادونه سوې وي چي زما ذهن ته اوس نه راځي.

ددغه صلوتيه کتاب په سر کي په سره رنګ يو پښتو مناجات سته چي تر بسم الله وروسته کاتب ورته ليکلي دي :" مناجات نيز از فضيلت پناه ملا قطب الدين اخند ميباشد بګمان بنده اين است". د مناجات مطلع داسي ده :

قـــناعت راته عـــطا کړې زما ربه
ورکه ځما حرص و هوا کړې ځما ربه

دا مناجات د عبدالحميد مومند دئ او د کاتب "ګومان" پر ځای دئ. د ملا قطب اخند د پښتو شاعری خبره ما د مشرانو استادانو له خولي اورېدلي نه ده.

د خطي کتابو په لړ کي مي يو د کوچنی قطع منظوم کتاب تر نظر تېر کړ. په کتاب کي نصايح، احکام او د تاريخي پېښو بيان په پښتو نظم ليکل سوی دئ چي ناظم ئي عطا محمد نومېږي او د

اوسني زابل ولايت د شاوخوا سيمي اوسېدونکی ښکاري. د ځان د نامه يادونه ئي په دې بيتو کي کړې ده :

گرو عطا محمد غريب دئ
په احسان د رب قريب دئ
...........
خـــــوار عطا گرَو په احسان دئ
خلاص به نه شي بار ئي گران دئ

ځيني نظمونه ئي د ناظم د سپين ږيرتابه ښکارندويي کوي . د کتاب پاڼي ژيړ وشمه او شنې دي او د سر او پای خوا ئي کنډو ده. موجود پيل ئې داسي دئ :

که مخالف وې پر هــر څه ته
د امـــــــــام وصيت منه ته

ډېر بدعات دي غـــوړېدلي
زماني زمـــوږ دي راوړي

يا افـــراط دئ يا تفريط دئ
په هر فعل کښي محيط دئ

موجود پای ئي:

هر يو خال ئي نقش د چين دئ
د چين نـــــقش ډېـر رنگين دئ

نقش د چين ...... نمايان دئ
د خدای نقش صد چندان دئ

د خدای نقش ډېر رنگين دئ
تر تـــــــمام نقش د چين دئ

دا مخ د (د خدای نقش ده) رکاب لري او نوره برخه ئې نسته .

د کتاب په منځ کي د ظلم په باب د يوه بيان په ترڅ کي د خواجه محمد خان په نامه د يوه مشر خان د ظلم يادوني لري او په هغو کي د شنکو خان په مشرۍ د يوه پاڅون پېښه بيانوي چي ناظم ورسره خپل مخالفت ښيي. د پاڅون يا بغاوت ملاترِيان د کندهار ذاکر شريف حضرات بولي او د ملامتی گوته ورته نيسي. ناظم پخپل مسجد کي پاڅونوالو ته مشوره ورکوي چي که د ميرعالم خان د زوی افضل خان حمايه تر لاسه کړئ، نو ښايي برى ومومئ، کنه هسي مو ځانونه مه تباه کوئ. دغه افضل خان د حاجي ميرويس نيکه د وراره حاجي انکو نيکه کوسی دئ. پاڅون وال دده مشوره مني او شنکوخان ناوې ته په جرگه ځي خو د افضل خان او زمان خان ملاتړ نه مومي او داسي ښکاري چي د نور اولس همکاري هم ورسره کمزورې وي .په پای کي ناکام له دنيا ځي. د کتاب ناظم ددغه پاڅون پايله داسي بيانوي:

د هلکانـــــــو پادشاهي وه
د خــوب خيال تشه بنادي وه

زما پــــــــند دده کل هېرشو
شــــــيطانان دده په ځير شو

آخر پای ددوی هــــــم دا شو
در په در ســــــــره جلا شو

شنکو خان ولاړ دوی بېځايه
ددنيا له فـــــاني ســــــرايه

نه ئي نوم د ښـــــه ميدان شو
نه ثواب د هـــــغه جهان شو

د شهادت د خـــــون له ميانه
ولاړی دی له دې جـــــهانه

حال ئي خدای وته معلوم دئ
عطا خــوار جهول ظلوم دئ

ماددي کتاب ددغي برخي يادونه په دې نيامت وکړه چي ښايي زموږ د تاريخ ليکونکو په درد به وخوري.

د خطي کتابو په لړ کي مي د ياقوت السير دوهم ټوک هم وکوت. دا ضخيم کتاب د محقق العلماء مولانا عبدالحق خروټي تاليف دئ. دی د کندهار يو مشهور محقق او مدرس عالم وو چي په خپلومعاصرينو کي ئي د( استادکل) لقب ګټلی وو. د ژوند زمانه د سدوزو د پاچهی وروستي کلونه او د بارکزو د واکمنی د سر کلونه ول. دده په تاليفاتو کي د شرح اربعين په نامه يو بل اثر هم سته . د علامه حبيبي له خولي يو روايت سته چي مولانا عبدالحق خروټی د حبو اخندزاده له شاګردانو څخه وو7. د ياقوت السير لومړی ټوک په ۱۳۶۷ ش کال د افغانستان د اسلامي علومو د څېړنو د مرکز له خوا د ښاغلي زلمي هيوادمل په زيار خپور سوی دئ.
ددې دوهم ټوک موجود پيل په دې ډول وو:

"قيلوله زه اوس کـــــــــومه
چي بيدار شم نور بي خورمه

دا ئي وويل بــــــــــــيده شو
خزاعي غافــــــــل له ده شو

ده هم وکـــــــــــــړه قيلوله
ځو له خـــــــــواب ده نيمروه

شـــــــــــو بيدار عبدالعزی
د خادم شــــــــــــو دی بينا

د پای مخ ئې:

" زر درووده نامـــــــيات
تسلـــــــيمات او برکات

پر مرقـــد دده نثار کړي
تر ابـــده ئې پايدار کړي

هم پر آل هم پر اصحاب
يا رب تې کړې مستجاب

تم بعون الله و توفيقه والحمدلله علی ذلک

تمت ۱۱۸۶

بدسخط حبيب الله برای ملا خان محمد کاکری کشيديم".

په ۱۱۸۶ کي لاس وهل سوی دئ بايد ۱۲۸۶ هـ ق وي. ما چي دغه ټوک له چاپي لومړي ټوک سره مقابله کړ، د دواړو ټوکوکاتب يو سړی دئ او فرمايش ئې هم د يوه شخص دئ.

په دې هيله چي ددغه درانه اثر دوهم ټوک به هم د چاپ په ګېڼه سمبال سي.

په دغه ورځ مي پر هغه شعري مجموعه باندي چي حاجي مخلص له کوټي ښخه د کټلو له پاره راليږلي وه، يو ياداښت وکيښ او د ښاغلي حاجي سيداحمد جان پر لاس مي کوټي ته ور واستاوه. د ياداښت متن دا سي وو :

"بسمه تعالی

پخېل پلرني ټاټوبي (کندهار) پسي د غمجن او ارمانجن شاعر (حاجي مخلص) د اشعارو ددې حاضري مجموعي ښه ډېر برخه مي ولوستله. په شعر کي ئې د خپل وطن او وطنوالو پر کړېدلي ژوند او د انسانانو پر بې لاريو ډېري اوښکي تويي کړي دي. له وينا ښخه ئې داسي ښکاري چي د خپل پلار و نيکه له مېني ښخه بېلتون پر اوږد سوی دئ او فراق ئې پر حساس روح باندي د قنوطيت او مايوسی سيوری غوړولی دئ.

د حاجي مخلص پلار و نيکه د کندهار مشهور ادبي او اجتماعي شخصيتونه وه چي نومونه ئې په درناوی سره يادېږي. او د (اثرالاباء يظهر فی الابناء) په حکم ئې دی هم د شعر دنيا ته هڅولی دئ. شعر ئې ځای ځای فني نيمګړتياوي لري، خو دونده (دومره) نه دي چي کيفيت ئې ور زيانمن کړي.

پاک خدای دې په دنيوي او اخروي نېکمرغيو ونازوي.

محمد معصوم هوتک

عينو مېنه ـ کندهار

اوله د ثور ۱۳۹۸ش "

د اپریل پر ۲۲مه (دوشنبه) حاجي نذیراحمد تایي او محب هوتک کور ته راغلل. ماپښین مو د جانان مؤمن په لارښوونه د ښادمن لوبستان وکوت. دا ستر تعلیمي، تربیتي ،فرهنگي او ورزشي مرکز د ښاغلي حاجي حکمت الله ښادمن په همت په عینو مېنه کي ودان سوی دئ. ددغه آبرومند ، عصري او مجلل مرکز په کتلو سره مي د ښاغلي ښادمن پر ملي او وطني احساس د زړه له کومي آفرین وواېه او د دې مرکز د هري برخي په لیدلو سره مي سترگي لوړي سوې. ددغسي بااحساسه ځوانانو او ملي سوداگروکمی دي پاک خدای نه راویني (آمین).

د اپریل پر ۲۳ مه (سه شنبه) جان محمد مهربان له کابله تیلفون راوکړ. په اول سر کي مي ونه پېژاند. وروسته مو سره وپېژندل. کابل ته ئې زما د ورتگ هیله ځرگنده کړه او ما هم نرۍ وعده ورسره وکړه. جان محمد مهربان په اوسنیو ځوانانو کي یو رسېدلی و با سلیقه لیکوال دئ. لیکني لږ کوي خو پر تول برابري ئې کوي. دی په کابل کي اوسي او زه چي په کاناډا کي یم، هم مي د حال احوال پوښتنه کوي.

په دغه ورځ ښاغلي بسم الله جان د رخام یوه ښکلي سر مېزي ډبره را وبخښله چي زما نوم ئې هم پکښې کیندلی وو. کور دې ودان وي. دی په دغو شپو کي کابل ته روان وو. لکه مخکي چي مي هم کښلي دي، دی په مشورتي لویه جرگه کي د کندهار په استازو کي شامل وو.

ماځیگر کورته بابا عبیدالله جان او اروابښاد محمد صدیق ادبیار زوی او ځوان شاعر بشارت کورته راغلل. بشارت خپله یوه لیکنه د کتلو له پاره راوړې وه چي ما ئې له بده مرغه په کندهار کي د کتلو موقع ونه موندله. په همدغه ماځیگرحاجي نذیر احمد تایي، تورنپال بابی او ښاغلی نجیب الله هوتکي هم کور ته راغلل.تر ماښام ناوخته مو ښه د خوند مجلس وکړ.

د اپرېل ۲۴ مه مي ټوله په هدیره کي تېره سوه. د خپل نیکه مولوي صالح محمد هوتک قبر مي په پاخه ډول جوړ کړ او لوړه شنخته مو پر ودروله . پر شنخته ئې لیکل سوي دي چي :

" د پښتو ژبي لوی خدمتگار او د کندهار ادبي انجمن غړی مولوي صالح محمد هموتک کندهاری د فیض محمد زی او د حاجي محمد اکبر لمسی وو. مور ئې د مولوي عبدالرؤف کاکړ(خاکي) لور وه. د کندهار معارف او د طلوع افغان اخبار دده په مدیریت تاسیس سول. مولوي صاحب په ملي شورا کي دوې دورې د کندهار استازیتوب وکړ او د ملي شورا لومړی معین وو. وفات ئې د ۱۳۳۹ش کال د سنبلې ځلرمه ورځ وه. خدای دې وبخښي.

هدیه : د محمد معصوم هوتک"

پر دغه قبر برسېره مي د خپلي کورنۍ د مشرانو نارینه وو او ښځو د قبرو له پاره اووه لس (۱۷) ډبري ولیکلې او قبرونه مې په پاخه ډول ترمیم کړل او ډبري مي پکښې ښخي کړې. دغه راز د خپلي لویي هدیرې نخشه چي خاکه ئې اروابښاد حاجي عبدالمتین برابره کړې وه، له سه بشپړه او خوندي کړه. په دغه نخشه کي زموږ د هدیرې یو سل و اتیا قبرونه په نامه تشخیص سوي دي چي په دې کي شپاړس اووه لس تنه داسي کسان دي چي لیکلي آثار او کتابونه ئې راته پرې ایښي دي. پاک خدای دي زموږ د کورنۍ ژوندو ته وس ورکړي چي د اسلافو پر قدمو گامونه کښېږدي . (آمین).




د مولوي صالح محمد هوتک مزار

په دغه شپه د کاکا اسدالله خان کره مېلمه وم . په مېلمنو کي د ښاغلي سرمحقق زلمي هیوادمل صاحب زوم هم وو. د پېژندګلوۍ لیدنه کتنه مو سره وکړه.

د اپرېل پر ۲۵ مه ( پنجشنبه) خلیل الله سروري او د صداقت خپرندویي ټولني مسئول ځوان کور ته راغلل او ددي ټولني یو شمېر چاپ سوي کتابونه ئي راته راکړل. د خپلي ټولني پر ارو او د چاپ او خپرېدني پر ستونزو مو خبري سره وکړې. د صداقت خپرندویه ټولنه د هر راز کتابو د چاپولو په کار کي بریالۍ ټولنه ده او زیات شمېر کتابونه ئي چاپ کړي دي.

د اپرېل پر ۲۶ مه مي ښاغلي رفیع صاحب ته تیلفون وکړ. راته وویل سوه چي په کابل کي تشریف نه لري او هندوستان ته د علاج له پاره تللی دئ. سلامونه او د روغتیا دوعا مي ورته پرېښووله.

په دغه ورځ مي خپل قدردان مشر حاجي محمد شريف خان سليمي ته چي په کوټه کي اوسي، ټيلفون وکړ او د حال احوال پوښتنه مو سره وکړه. دغه راز مي له خپل همصنفي او زړه ته راتېر اشنا قاضي محمد يعقوب سره هم تيلفوني خبري وکړې. د ليدلو کتلو وعده مو سره وکړه چي له بده مرغه زما د ژر تگ له اسيته ميسره نه سوه.

ښاغلي عزيز خان کرزي ته مي امريکا ته تيلفون وکړ. پر خبرو بريالى نه سوم. دوى لطف کړى وو او کندهار ته زما د ورتگ په دوهمه شپه ئې له امريکا څخه تيلفون را وکړ. خو د خوښى ځاى دا وو چي په دا سبا ئې دوى جوابيه تيلفون راوکړ او ښه د خوند او صميميت خبري ئې راسره وکړې. عزيز خان کرزى صاحب د کرزيانو د پراخي کورنۍ معزز مشر سپين ږيرى دئ . مجلس ئې هر وخت له فيضه ډک وي. خداى دې په عزت لري.

په دغه ورځ د ماځيگر له خوا ښاغلى مفتون صاحب، حاجي قاري محمود، حاجي احمد رسول، مينه پال او بشارت او څو نور ملگري ئې کور ته راغلل. مفتون صاحب ښه ډېر کلونه په انگلستان (لندن) کي مهاجر وو. اوس په کندهار کي اوسي. منور او وطندوست سړى دئ. ما ته هر وخت ډېر اخلاص ښيي او تر احسان مي لاندي کوي. قاري صاحب حاجي محمود او حاجي احمد رسول زما د ډېر وخت دوستان او اشنايان دي. زه چي هر وار کندهار ته ورسم، دوى راسره په ډېره مينه او محبت گوري. قدردانه خلک دي. ددوى مشر ورور اروابناد حاجي غلام رسول ( مشهور په حاجي اخوند) زما د ځوانى د وختو اشنا وو.

په دغه ورځ مي د اسدالله غالب په نامه د يوه کندهاري ځوان شاعر سره وکتل. خپله ناچاپه شعري مجموعه ئې د کتلو د پاره راکړه. غالب ډېر ښه شاعر دئ او که څه خواري پر ځان ومني، ښه راتلونکي ورته گوري. ما ئې پر مجموعه باندي يو لنډ يادابنت ورته وکيښ.

د اپرېل ۲۸ مه (يکشنبه) د حاجي ظاهر جان څرک کره مېلمانه وو. حاجي صديق مهمند، عبدالمالک همت، روهيال او نور ئې هم رابللي ول. حاجي صديق په کندهار کي يو مجهز روغتون لري او د بل غټ روغتون کار ئې هم د بشپړېدو په حال کي دئ. دوطندوست او ملي سوداگر دئ.

د اپرېل ۲۹ مه (دوشنبه)مي هم د حاجي نجيب اله کره په مېلمستيا تېره سوه. د کورنى نور غړي مي هم پسله ډېرو کلو وليدل. دغه راز له نجوى څخه ځيني خلک هم زما ليدو ته راغلي ول. په هغو کي د مرحوم محمد کريم زوى حاجي مولوي صاحب چي نوم ئې اوس راڅخه هېر دئ، هم راغلى وو. زما سره دا لومړى کتنه وه. له ليدني کتني څخه ډېر اغېزمن ولاړ سو او پر څهره ئې خوشالي ښکاره پرته وه. حاجي مولوي زما د نجوى په متعلقينو لومړى تن دئ چي ديني علوم ئې لوستي دي.
د اپرېل پر ۳۰مه ( سه شنبه) مي ځينو شخصي کارو ته ور ايستلې وه. په کندهار پوهنتون کي زما له پاره غونډه جوړه کړې وه. سهار د ښار مرکز ته ولاړم. له هغې خوا چي په ريکشا کي کور ته راتلم، حاجي عبدالمالک همت صاحب له کابله زنگ را وواهه. د روغ جوړ پوښتنه مو وکړه. دا چي کابل ته مي د خپل تگ پروگرام لغو کړى وو، خواشينى سو. خو دوعا ئې وکړه چي د وطن حالات سم سي او موږ ټول د خپل وطن او خپل فرهنگ له پاره تر پخوا زيات فعاله سو.
د مي لومړۍ نېټه ( چارشنبه) ئې په کندهار پوهنتون کي زما له پاره يوه غونډه ترتيب کړې وه. غونډه د ماپښين پر درې بجې پيل سوه. تر غونډي دمخه ئې د پوهنتون په کتابتون کي ترتيبات نيولي ول. دا کتابتون " علامه حبيبي کتابتون" نومېږي چي په ۱۳۷۱ش کال تاسيس سوى دئ. دا کتابتون د ټول افغانستان په سطحه يو له لويو کتابتونو څخه دئ. ودانۍ ئې د امريکا د متحده ايالاتو د خلکو په مرسته ودانه سوې ده. فعلاً پکښي نوي زره (۹۰۰۰۰)ټوکه کتابه خوندي دي چي په بېلابېلو ژبو دي. د څېړني دوه مرکزونه يو د افغانستان پېژندني او بل ريفرنس څانگه

لري. دغه کتابتون د فزیکي طبقه بندۍ په برخه کي د امریکا د متحده ایالاتو د کانګریس لایبرېرۍ پر سیستم تنظیم سوی دئ او د کتابتونو معاصر سیستم پکښې پلی سوی دئ. اوسنی مشر ئې قرآنمل دئ ي موږ ته د کتابتون ټولي برخي په مفصله توګه راوښوولې.

له کتابتون څخه د پوهنتون د رئیس ډاکټر توتاخېل،ډاکټر عبدالرازق پالوال، انجنیر شیرشاه رشاد، ډاکټر طارق رشاد، استاد حیات الله رفیقي، استاد فضل محمد پنهان، استاد اختر محمد خان، پوهنیار مطیع الله روهیال په ملګرتیا د غونډي تالار ته چي د پوهنتون ادیتوریم وو ولاړو. د لاري په اوږدو کي محصلین د هرکلي له پاره په ښه نظم و ترتیب ولاړ وه. تالار ته له رسېدو سره سم ټول ولاړ سول او زموږ ډله د چکچکو په بدرګه د مخ صف ته خپلو ځایو ته ولاړه. غونډه د قرآن عظیم الشان په تلاوت او د افغانستان د ملي سرود په ږغولو سره پیل سوه. د پیل وینا ډاکټر توتاخېل صاحب وکړه. ورپسې ډاکټر طارق رشاد د اطلاعات و فرهنګ وزارت پیغام ولووست. وروسته پوهنیار سیداحمد قانع زما پېژندلیک ولووست، پوهنمل انجنیر شیرشاه رشاد، پوهنیار مطیع الله روهیال، پوهنیار نثاراحمد آریا، پوهیالي عبدالواحد کالون، محمد ابراهیم سپېڅلي، عطاء الله محمدي، نجیب الله هوتکي خپلي لیکلي مقالي ولوستلې. د غونډي په پای ما هم وینا وکړه او د پټي خزاني پر شالید او محتوی او دغه راز ددغه کتاب په باب د جنجال آمیزو تبلیغاتو پر ماهیت و حقیقت خبري وکړې چي  حاضرینو له تاوده هرکلي سره مخامخ سوې. دغه وینا په هماغه د نړیوالي مېډیا له لاري هر ځای ته ورسېده او د کندهار محلي راډیو تلویزیونو خو دوه درې واره خپره کړه.

دا غونډه هم د ګډونوالو د شمېر او هم د نظم و انتظام له مخي بېساري وبلل سوه.



کندهار پوهنتون چي په ۱۳۶۹ش کال د ښاغلي توریالي ویسا په ریاست تاسیس سوی دئ، اوس د هیواد له ۳۴ ولایتو څخه نهه زره محصلین لري چي په دوولسو پوهنځیو کي درس لولي. د استادانو، اداري او خدماتي کارکوونکو شمېر ۶۱۰ تنه دئ چي د هیواد له ۲۴ ولایتو څخه دي. په استادانو کي ئې ۱۳۸ تنه لیسانس، ۱۲۹ تنه ماستران، درې تنه دوکتوران دي.کندهار پوهنتون

په نړیواله کچه له ۱۷ پرمختللیو پوهنتونو او څېړنیزو مرکزونو سره دوه اخیزي همکارۍ لري او په ۱۳۹۷ش = ۲۰۱۸ع کال ئې د هیواد په کچه د کیفیت د لوړاوي په پروسه کي د شاملو پوهنتونو په منځ کي تر ټولو لوړ مقام وګاټه.

د غونډي په ماځیګر استاد حیات الله رفیقي، نجیب الله هوتکي او تورنپال بابی کورته راغلل. څرنګه چي ما کاناډا ته د بیرته تګ غوټه تړلې او روژه مبارکه هم را روانه وه، نو زما او ددوی د مصروفیتو له اسیته مو په همدغه ورځ خدای پاماني وکړه.

د مي پر دوهمه (پنجشنبه) د علامه رشاد بابا مقبرې ته له ځېل خوريي حاجي مسعود ګلالي سره ولاړم او په زیارت ئې مشرف سوم. د مشاهیرو هدیرې ته مي هم دوعا وکړه. په دغه هدیره کي همدا اوس د شهید مجید بابي، شهید حمیدي ښاروال، شهید عبدالقدیم پتیال، استاد محمد انور نومیالي، محمد ولي ځلمي، الحاج محمد ناصر نصرت، عبدالهادي ریشاء او عبدالهاندي هاندقبرونه سته.

د علامه رشاد تر زیارت وروسته د میرویس نیکه زیارت ، کوکران ته ولاړم. د زیارت له احاطي څخه مي د میرویس د کورنۍ غړي رحمت الله خان تیلفون وکړ. زما په ورتګ خوشاله سو خو له بده مرغه دی له کوکران څخه ډېر لیري د ارغنداو په ها بل سر کي وو. د راتګ امکانات ورته میسر نه ول. د زیارت تر کولو وروسته مو مخ پر کور ونیو. د شپې ښاغلي روهیال زما نوي چاپ سوی کتاب (پښتو متون سمېدل غواړي ــ دوهم ټوک، لومړی برخه) راووړ او د چاپ مبارکي ئې راکړه. دا کتاب د ګران روهیال په همت د علامه رشاد خېرندويي ټولني له خوا چاپ سو. مالي لګښت ئې هم خېرندويي ټولني پر غاړه واخیست. کور دې ودان او همت و برکت دې مل وي. دغه راز ئې د آغلي مریم صالحي شعري مجموعه (ساړه آهونه) هم راته راوړل. دا د مریم صالحي لومړۍ شعري ټولګه ده چي چاپ سوه. مریم صالحي ته مې مبارکي کاناډا ته تر راتګ وروسته ورکړه او د مجموعې دوه ټوکه مي هم ور ورسول. دا مجموعه هم د ښاغلي روهیال په همت چاپ سوې ده.

د مې پر درېیمه (جمعه) مي له اوربند جریدې سره مرکه وکړه چي په راتلونکې ګڼه کي ئې خپره کړه. کله چي مي په کاناډا کي دغه ګڼه ولوستله، د سردار مهردل نوم ئې سردار پردل او د حاجي محمد اکبر هوتک نوم ئې محمد اکرم لیکلی وو.

د همدغي ورځي په ماپښین د دهلې بند ته ولاړم. ملګري مي ډاکټر نجیب الله نیازي او درې اکټران زامن ئې، حاجي مسعود ګلالی او حاجي فیروزالدین ول. د دهلې بند پر ارغنداو باندي جوړ سوی دئ . د تېرو څو کلونو د وچکالی له اسیته وچ وو. سږ کال چي د خدای په فضل و مرحمت باراني کال دئ، د دهلې بند بیرته له اوبو ډک سوی دئ او د کندهار خلک هره جمعه د میلې له پاره ورځي. دهلې بند ته اوس د کوتل مورچې له لاري ارغنداو ته اوړي اوبیا د کانال غاړه تر بند پوري اخلي. سړک ئې ډامبر سوی دئ او ټرافیک فوق العاده زیات وي. د دهلې بند ته زه وروستی وار د ۱۳۴۲ ش کال د عقرب پر ۱۶مه تللی وم او دادئ شپږ پنځوس کاله وروسته بیا ورغلم. هغه وخت زه شپاړس کلن زلمی او د میرویس نیکه لېسې زده کوونکی وم.

دا وار د بند تر پارچاوې تېر سو او یو ځای مو د اوبو پر غاړه کمبلي اواري کړې او تر غټ ماځیګره مو د اوبو ننداره او د ښې هوا مېله وکړه. زموږ وطن افغانستان په تېره بیا کندهار د مېلې ډېر ښه ځایونه لري، خو افسوس چي جګړو او بدامنۍ له خلکو څخه هر څه اخیستي دي.

ما له ښه مرغه هغه عکس هم له ځانه سره ساتلی دئ چي ۵۶ کال پخوا مي په دهله کي اخيستی وو او دلته به ئي د يوه تاريخي يادګار په توګه

پخپله دغه سفرنامه کي خپور کړم. دا عکس له هغي ډبري سره اخيست سوی دئ چي د دهلې بند د جوړېدلو په نيامت ايښوول سوې وه. د ډبري متن داسي دئ :

" دا ودانۍ چي د ارغنداب بند نومېږي د افغانستان د پادشاه همايوني اعليحضرت المتوکل علی الله محمد ظاهر شاه د سلطنت په دوره کښي د ۱۳۲۹ کال د جوزا په مياشت کښي شروع شوی او د ۱۳۳۱ هجري شمسي کال په ثور کښي پای ته ورسېد."

د ډبري د همدې متن کیڼ اړخ ته همدا عبارت په انګرېزي هم ليکل سوی دئ. د دهلي بند د يوې امريکايي کمپنۍ له خوا چي موريسن کنوډسن (Morrison Knudsen) نومېده، ودان سوی دئ.

د مې ڤلرمه (شنبه)مي له دوستانو سره په خدای په امانۍ تېره سوه. خورا ډېر دوستان د مخه ښې له پاره کور ته راغلل.په دغه ورځ مي د اطلاعاتو و کلتور محترم وزير پوهاند باوري صاحب سره په تيلفون کي خبري وکړې. د لوړو تحصيلاتو معين ښاغلي عبدالتواب بالاکرزي صاحب هم له کابله تيلفون راوکړ. بالاکرزي صاحب تر دغي وظيفې دمخه د کندهار پوهنتون علمي مرستيال وو.د کندهار پوهنتون په پرمختګ دده او نورو همکارانو هلي ځلي په رشتيا سره د ډېري ستايني وړ دي.

ددې ورځي په ماځيګر هغه کتابونه هم راورسېدل چي ډاکټر عبدالرؤف رفيقي له کوئټې څخه رالېږلي ول. کور دې ودان وي چي په داسي غټه تحفه ئي غټولی وم. په کتابو کي د کليات اقبال منظومه پښتو ژباړه، د غير پښتنو پښتو پېژندونکو لاربنود، سوسن چمن او نور کتابونه ول.

ګران محب هوتک هم يوه ارزښتناکه هنري تحفه راکړه. د تجربوي ښوونځي د زده کوونکو له خوا د خطاطۍ او رسامۍ ښکلي نموني هم راکول سوې. د ټولو نيازمنو غم دي ليري وي.

ددې سفر په جريان کي مي له ښاغلي سيد حبيب الله روحاني سره څو پلا د تيلفون له لاري خبري وکړې او يو وار مو په کور کي سره وکتل. روحاني صاحب ډېر ښه شاعر او ليکوال دئ. د شعر او نثر څو کتابه ئي چاپ سوي دي. ما ته ډېر اخلاص لري . د ليدني کتني په ترڅ کي ئي يوه شعري مجموعه د څه ليکلو له پاره راوسپارله چي له بده مرغه مي دده دا غوښتنه تر سره نه کړه او مجموعه په کندهار کي را څخه پاته سوه چي کاناډا ته زما تر راتګ وروسته ښاغلي ارماني ور وسپارله. زه له دې امله ځان مقصر بولم چي د خپل يوه مخلص اشنا غوښتنه مي سرته ونه رسوله.

دغه راز مي له خپل يوه بل دوست سره هم د پېژندګلوۍ موقع وموندله. دا ځوان نعمت الله (زلمی)نومېږي او د ارغنداو په چارباغ کي اوسي. ددوی لوی نيکه ملا فرح الدين اخندزاده هوتک وو چي پلرنۍ مېنه ئي په زابل ولايت، سيوري کي د عمرزو کلي دئ. دغه ځوان ډېر مينه ناک زلمی وو. له چارباغه ئي په دوه واره توت راوړلو سره زما د خپل زلميتوب د وخت د توتو د مېلو خاطرې راژوندۍ کړې. غم دې ليري وي.

د مې پر پنځمه (يکشنبې) مي د ماځيګر پر پنځو بجو او شلو دقيقو په اريانا الوتکه کي مخ پر دوبۍ روان سوم. د الوتني تر وخته پوري زما ګران دوست حاجي احمد موسی په هوايي ډګر

(VIP) سالون کي د چایو سربنته کړې وه. ښه خوږ مجلس مي ورسره وکړ او تر الوتکي پوري راسره ملګری وو. د هوايي ډګر ټولي چاري مي هم دده په مرسته سرته ورسولي.

تر دوه ساعته الوتني وروسته د دوبۍ هوايي ډګر ته ورسېدو. په هوايي ډګر کي مي يو ځوان مخي ته راغی. د ميني او اخلاص روغبړ ئي راسره وکړ. چي ځان ئي راښوو، دوهم وار مي په غېږ کي ونيو. د کاکو غلام فاروق خان لمسی وو. نوم مي له بده مرغه له یاده ووت. د بکسو په رااخیستلو کي ئي مرسته راسره وکړه او تر عکس اخیستلو وروسته مي مخه ښه ورته وويله. ډېر صميمي ځوان وو.

په دوبۍ کي مي اوږد انتظار په مخ کي وو او له دې اسيته مي په هالیډې ان ايکسپرس (Holiday Inn Express)هوټل کي د دوو شپو له پاره اطاق ونيو.

ښه ارامه شپه مي تېره کړه. په دا سبا ئې د روژې لومړۍ ورځ وه. روژه مي نه وه. د سهار ناری مي د هوټل په رستورانت کي وکړ. تر ناري وروسته مي روهيال ته وليکل چي زما له خوا په فیسبوک کي د کندهار له فرهنګیانو او فرهنګپالو څخه ددوی د ميني او محبت ښوولو له اسيته مننه وکړي. جواب ئي راغی چي دا کار ئي وکړ.

په هوټل کي مي ځان د تلويزيون په کتلو او ورځپانو لوستلو مصروف کړی وو. په (Gulf News) ورځپانه کي ئي د هند د انتخاباتو ، د اسرائيلو له خوا د غزې بمبارډ، د ايرفلوټ الوتکي اور اخيستل مهم خبرونه ول. تلويزيون د انګلستان د شهزاده د زوی زېږېدلو خبرونه او تصويرونه ښودل.
د مي پر اوومه (سه شنبه) د سهار پر څلور بجي له هوټل څخه په مؤظف بس کي هوايي ډګر ته ولاړم. په ميدان کي ډېر وځنډېدلم. پر اته بجي الوتکه والوته او په باسټن (امريکا) کي تر لنډ تم کېدو وروسته په ټورنټو نړيوال ډګر کي کښته سوم. له دوبۍ څخه تر ټورنټو پوري مي سفر نونس ساعته سو. په هوايي ډګر کي مي وار دواره سترګي پر خپل ګران لمسي دري کلن( رايان) او مشر زوی ذکي هوتک روښانه سوې.

(پای)

۱۹ مه د جون ۲۰۱۹ع

آشاوا ــ کاناډا

**لمنليکونه:**

۱ ـ دغه وخت د ښاغلي ناشناس یوې مرکي په فېسبوک او میډیا کي د پټي خزاني په باب يوه بې ضرورته او بې ګټي غوغا جوړه کړې وه. زما دغه کتاب هم د پټي خزانې د پس منظر په باب مطالب لري.

۲ ــ په دغه کال د ده په نامه يوه قباله ثبت سوې ده چي اصل ئي ما کتلی دئ. (م.هـ)

۳ ــ وګورئ : سراج الموتی ـ ۳۶ مخ ـ د کوټي چاپ.

۴ ــ دغه ځای نه لوستل کېږي. (م.هـ)

۵ ــ وګورئ: د علامه رشاد د کندهار یاداښتونه، لومړی ټوک ــ ۱۳۶ ، ۱۳۷ مخونه.

۶ ــ د زیاتو معلوماتو له پاره د علامه رشاد تالیف "د کندهار زیارتونه" ــ ۲۰۳ ، ۲۰۸ مخونه ولولئ.

۷ ــ وګورئ: د کابل چاپ یاقوت السیر ــ لومړی ټوک ـ د سریزي نهم مخ.